مورچل

ديارلسم کال، پرلپسې ۱۳۷مه ګڼه،
جمادی الأولی ۱۴۴۱هـ ق، جنوري ۲۰۲۰م

د مجاهدينو بريدونه به نور هم دقيق او مؤثر شي!

د سولې توافق نامې ته ځوک زړه نه نيسي!!

هوا! د ټرمپ

د قول او عمل ترمنځ تضاد دی...

خبر او نظر...!!

معامله قرن

يا معامله د ټرامپ - نتانیاهو؟!

د فلسطين د تاريخ مهم کړليچونه

مورچل

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال لومړی، پرلپسې ۱۳۷مه گڼه،
جمادی الأولی۱۴۴۱هـق جنوري۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	هو! ترمپ د قول او عمل ترمنځ تضاد دی!	۲
۳	د سولې توافق نامې ته خوک زړه نه نیسي!!	۵
۴	د دښمن په هوايي خواک خپونکي گوزارونه	۷
۵	جهاد برضد فساد و اشغال، و رهبری مثالی امارت	۹
۶	د وعدو نه د امریکا شاتگونه او پرامارت بې تهمت	۱۳
۷	اوربند دې هغه خوک وکړي چاچې اور بل کړی	۱۶
۸	غرب په کوم تهذیب ویاړي؟!	۱۹
۹	د فلسطین د تاریخ مهم گړیچونه	۳۱
۱۰	اخلاقي جوړښت د يرې راز دی	۳۶
۱۱	د هندو مندر جوړوي خو دمسلمان مسجد نړوي	۳۹
۱۲	خبر او نظر!	۳۱
۱۳	معامله قرن یا معامله ترامپ - ننتیاهو ؟!	۳۳
۱۴	په هند کې د مسلمانانو ارتداد لپاره منظم تحریک	۳۶
۱۵	د هیواد تاریخ مو د تېرو پرغلونو عیني شاهد	۳۹
۱۶	په جهاد کې زموږ اخلاق	۴۲
۱۷	د اسلام غزوات او سرایا	۴۵
۱۹	شهید مولوي محمد نذیر شهامت تقبله الله	۴۹
۲۰	جنگي جنایتونه (جنوري)	۵۱
۲۱	دمورچل وړمې	۵۳
۲۲	د۲۰۱۹م کال د دسمبر میاشتې جهادي خپرونه	۵۶

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی	حکمت
معین احمد	حافظ سعید
حسن زوی	موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنگي کمیسیون تخنیکي څانگه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

دمجاهدینو بریدونه به نور هم دقیق او مؤثر شي!

داشغال په وړاندې زمونږ حقه او سپېڅلې مبارزه له هماغه ړومبۍ ورځې ځکه بریالۍ ده چې پراخ ولسي- ملاتړ یې خپل کړی، دټولو زبرخواکو دزور او جبر په وړاندې یې د دومره اوږدوالي او غځېدا اصلي لامل هم همدا دی، زمونږ د روان جهاد همدا بریا وه چې مغرور دښمن یې دخبرو مېز ته کېناوه .

اوس چې لیدل کیږي دښمن بیاهم بې بېخه بوټي ته لاس اچوي او فکر کوي د بمونو اورولو له زیاتوالي سره له چل وفریبه کار واخلي، ګوندې له دې لارې خپل هدف ته ورسیږي او داسلامي امارت لښکرې به ماتې کړي، ځکه خو په روانو مذاکراتو کې دځنډ او خنډ لاملونه راپیداکوي اوپه دې تمه دي چې په مقابل لوري کې به دماتې اویأس څه څرک ولګوي .

خو! اسلامي امارت له دې سره سره چې په خپلو تعهداتو یې ښه ژمنتیا ښودلې دغه راز یې جهادي عملیاتو او تکتیکونو ته هم ځانګړې پاملرنه کړې، چې خورا مثبته نتیجه یې ترلاسه شوې، ځکه له یوې خوا امریکایان په روانو مذاکراتو کې له ښه نیت او صدق نه لرې ښکاري اوله بلې خوا یې زمونږ پرمظلوم ولس سور اور راښکته کړی، دغه پاملرنه او له ځینو مواقعو نه استفاده ده چې دمجاهدینو بریدونو دقت موندلی او ددښمن پرهوایي ځواک یې ګوزارونه کاري دي.

که امریکایان د تېرو (۱۹)کلونو له تجربو څخه بیاهم عبرت نه اخلي چې له هیڅ زور او وحشته یې دریغ نه دی کړی او په جګړه ټینګار کوي، اسلامي امارت هیڅکله دخپلې داعیې دتحقق په لاره کې له روانې سپېڅلې مبارزې ستړی نه دی اوپه دې لاره کې به دخپلو اهدافو او ګوزارونو دقت او مؤثریت ته لامتوجه شي، دغه راز به له ټولو هغو مواردو څخه په زړورتوب ګټه واخلي چې په دې برخه کې ترلاسه کیږي .

اسلامي امارت دناټو پرغړو هیوادو او امریکاغږ کوي چې په سیاسي ډګر کې داسلامي امارت سوچه اوثابتې دیپلوماسۍ ته په کتو دې په خپلو ژمنو وفا وکړي او دقضیې په اړه دې خپل دریځ روښانه کړي .

دسولې اوجګړې دواړو په هکله زمونږ دریځ ډېر روښانه او څرګنددی، زمونږ راڼه، واضح اوثابت موقف له تزلزل او تردد نه ساتلي یو .

خو په لوړه او ټیټه سطحه دمقابل لوري متضادې څرګندونې په روانو مذاکراتو کې د دوی تردد اودسولې په اړه شکونه راپورته کوي، چې په څرګند ډول دسولې اودقضیې دسوله ایز حل په ځای جنګ ته لمن وهل دي.

خو زمونږ موقف په دې اړه هم څرګند او ډېر ثابت دی اولکه څنګه چې جنګ له لومړي سره په مونږ تپل شوی او مونږ داشغال په وړاندې دخپلواکۍ او نوامیسو دفاع کوو، دغې دفاع اود خپلواکۍ د جګړې مقدسې فریضې ته تر هغو دوام ورکوو ترڅو مو هیواد آزاد او ولسونه مو داشغالګرو له ستمه نجات ومومي .

وما ذلک علی الله بعزیز

هو! دترمپ

دقول او عمل ترمنځ تضاددی...

ارمان

يوه ورځ وړاندې دامريکا ولسمشر(ترمپ) خپلو خلکوته په کلنۍ وينا کې يو واريا له افغانستانه دامريکايي عسکرو دويستو او دافغان جګړې پای ته رسولو ټينګار وکړ،او هم يې دسولې په روانوخبرو کې دپرمختګ خبر ورکړ:

دټرمپ ددې وينا وروسته دامريکا يوې مشهورې ورځپاڼې (نيويارک ټايمز) پخپل يو راپورکې وليکل چې دناتوغړې هيوادونه لګيادي له افغانستانه دخپلو عسکرو د ويستلو په لاروچارو غورکوي

راپورکې ويل شوي که امريکا په رسمي دول له افغانستانه دخپلو عسکرو ويستل پيل کړل نو ورسره به ناتوهم دخپلو زرګونو عسکرو ويستل پيل کړي.

دخبرې سرچينوپه وينا: دناتوسازمان يوشمير غړي هيوادونه غواړي له افغانستانه خپل ټول عسکر په يوځل ونه وباسي؛ بلکې تدريجاً يې په شميرکې کموالیراولي، خو بل پلوته بيا ځيني دناتو نور غړي هيوادونه ټينګارلري چې دامريکايې عسکرو له وتو سره بايد دوی هم خپل ټول عسکرو باسي

د سياسي کتونکوپه نظر. ناتو په افغانستان کې خپل ټول عسکري موجوديت دامريکا له پوځي ملاتو سره تړلی بولي ،خو چې امريکاد افغانستان اشغال ته دوام ورکول غواړي، ترهغه به دناتو زرګونه عسکرهم پاته وي،خو د امريکا دوتلو سره سم ناتوهم دخپلو عسکرو د ويستلو هوډ لري، زکه ناتو له امريکا پرته کومه مستقله او خپله اجنډا نلري دهغوی حيثيت دامريکا دکرايي پوځونيانو دی

چې هرچیرې ورته دامریکا ضرورت پیښ شي هم هلته درومي.

اوس مهال په افغانستان کې دنا ټو د ۲۹ غړوهیوادوټول ۸۷۰۰ عسکر شتون لري کوم چې دافغان ولس دازادي په مقابل کې دامریکا د دفاعي خواک په توګه دندې اجراء کوي.

د شک پرته دامریکا اوناټو دواړوعسکري موجودیت دافغانستان او ټولې سیمې امنیت اوثبات ګواښي، په افغانستان کې خو هره ورځ ناروا بریدونه او وحشیانه عملیات سرته رسوي، دملکي افغانانو په کورونو شپینې چاپې اچوي چې له دې په ټول هیواد کې مظلوم افغان ولس په یوه لویه ناقراري او اضطرب کې ښکېل دی

اوهم دټولې سیمې هیوادونه دامریکا اوناټو دپوځي شتون له املې په یوډول بیړني حالت کې قرارلري

کابل کې ناست لاسپوڅی رژیم چې امریکا په افغان ملت تپلی، هغه په ظلمونو اووحشتونوکې له امریکا یانو ځو بردی؛ کم نه؛ هغه له افغانانو سره دومره قوي عقده او دښمني لري، چې بیا بیا له امریکانه داشغال دتمدید اوبریدونو دتشدید غوښتنه کوي او ددې لپاره شپه و ورځ امریکائي چارواکوته په زاري اوفریاد لګیادی چې ګورئ! یوازي موپرېښږدئ!خپل سیوری مو زمونږ دسره لري نکړئ!

راځو دیته چې ایا د عسکرو ویستلو، په اړه دټرمپ اوسنۍچیغې او بغاړې واقعبینانه هم دي؟ایا هغه روانه بدمرغه جګړه پای ته رسول غواړي؟اوبل دوحه کې دافغانستان داسلامي امارت او امریکا ترمنځ دروانو اوږدو خبرو سره اړ سپین ولې نه ښکاري؟ امریکایان کله په یوه اوکله په بله بهانه ولې دتوافق نامې لاسلیکول ځندوي؟

ددې پوښتنو په اړه تراوسه سهي ځوابونه له چاسره نشته، ولې چې امریکا هغه نامرد دښمن دی چې د سیاست اودډیپلوماسۍ په قانون کې یې اخلاقي ارزښتونه لحاظول، یا هغوته احترام لرل او پخپلو ژمنو دریدل ځای نلري، هروخت اوناڅاپه هغه له خپل دریځ اومسیرڅخه په شاکیدای شي! هغه ناڅاپه خپل سرسخت دښمنان دوستان ګرځولی شي؟ لکه په ایران کې دخمیني انقلاب له بري وروسته امریکا په مختلفو لالچونو ورکولو سره عراق دیته اماده کړ چې دایراني انقلاب په وړاندې جګړه وکړي، هغه وچې ایران اوعراق دواړه یې په یوه اوږده دښمنۍ کې ښکېل کړل، بیا کله چې دامریکا په په پټې لمسون او اشاره صدام حسین په کویت حمله وکړه.په هم هغه سبا ته یې صدام حسین خپل دښمن اعلان کړ شواو پرضد یې نوی جنګي ایتلاف رامنځته کړ او دجګړې لپاره یې خلیج ته خپلې جنګي بیړۍ او خواکونه راولیږل کوم چې ترننه هلته میشت دي

کارپوهانوپه اند: عربي خلیج کې جګړه پیلول دامریکا دنړیوالوموخو او ارادو لپاره یو اعظمي ضرورت و،ځو یه ترڅ کې یې دځان لپاره هلته دپښو ایښودو چانس برابرکړ، تردې چې په کومه شپه صدام په کویت دحملې قومنده ورکوله، په هم هغه شپه ورسره پخپل دفترکې یوساعت دمخه

دامریکا سفیر ورسره ناست و او پوره ډاډ یې ورکړچې امریکا به یې دبرید ملاتړکوي، خو کله چې صدام په کویت دحملې تاریخي اشتباه وکړه او عراقي ځواکونو کویت اشغال کړ،نو سملاسي امریکا دعراق حمله وغندله او عراق سره دجګړې لپاره خلیج ته خپلې جنګي بیړۍ واستولې

په ورته توګه کله چې امریکا په عراق حمله کوله ، نوپه پټه یې له ځان سره ایران حلیف اوملګری کړ، اودصدام حسین حکومت په راپرځولوکې یې دایران له اثرو رسوخ نه ګټه پورته کړه ، چې په ترڅ کې یې ایران ته هم په خلیجي هیوادو خصوصاً عراق کې دخپلو پلانو دغځولو فرصت په لاس ورغی، عراق کې له سنیانو څخه شیعه ګانوته دسیاسي قدرت په انتقال کې خپل هم رول ترسره کړ

لنده داچې دامریکا دوستي اودښمني په متفقه اخلاقي معیارونو اوضابطو نده ولاړه، بلکې له شیطاني هوسونو او اغراضو راڅرخي، هم دا وجه ده چې په دوحه کې دروانوخبرو په اړه ترننه هیڅ بیطرفه مبصر ډیره خوشبینې نلري

چې ورته په کتو سره دافغانستان اسلامي امارت له لوري هم په یوه اعلامیه کې ویل شوي چې امریکا د سولې لپاره په روانو خبروکې دخپلواکو لپاره نوي،نوي موضوعات رابرسیره کوي او خبرې تکنې کول غواړي

د اسلامي امارت درسمي اعلامیې له مخې: امریکا چې کوم موضوعات اوس راپورته کوي ، هغه ټول دسولې ترون دلاسلیک وروسته په توافق نامه کې حل کړای شوي دي

هم داراز دامارت په اعلامیه کې راغلي امریکا یولورته دسولې خبرې کوي خوبل لوریې دملکي افغانانوپه وژلو لاس پورې کړی دی ،داکارې ښیي چې دوی دسولې په اړه رښتیني ندي، داعلامیې په وینا: دکابل رژیم چارواکو جنګولوترشاه هم دامریکا لاس دی غواړي په دې سره هغوی دخپلو ارادو منلوته اړکړي

نتیجه داشوه چې امریکا یومعلوم درېځ یامسیرنلري ،تل واقعیتونه پټ ساتي، نړۍ او خلکوته دروغ وایي،په خوله یوڅه وایي اوپه عمل کې بل څه! په خوله سوله یادوي! خوعملاً دعملیاتو تشدیدولو له لارې دمجاهدینو دځواک په ځپلو لګیا ده، اودخپل شکست دغچ اخیستو لپاره دعامو خلکو په کورونو بمونه غورځوي، په لسګونه افغانان په شهادت رسوي نو په داسې وضعیت کې افغان ولس دټرمپ دجګړې دپای ته رسولو شعارونه جعلي اوتیرایستونکي بولي، دجګړې پای ته رسولو په اړه دټرمپ ځرګندونوته دشک په نظر ګوري او پرې باور نه لري .

د سولې توافق نامې ته څوک زړه نه نیسي!!

عبید ـ تنویر

داچې امریکایان له خپل ټول طاغوتي او ښکیلاکي د بدبدې او تکبر باوجود دیته اماده اوچمتو شول چې له اسلامي امارت سره دخبرو میزته کینې او د یوه مساوي جهت او اوري په شکل ورسره سیاسي مباحثې او مذاکراتي پراووته پرمخ یوسي او بالاخره د سولې توافقنامه ورسره نهایي کړي ، علت دا نه و او نه دی، چې له اسلامي امارت سره امریکا په خپل خصمانه او خودخواه دریځ نادمه او پښیمانه ده او یایې د طالبانو له لوري کوم داسې افشن او وراندیز ترلاسه کړی او یالیدلی چې ووایی طالبان له خپل برحق دریځ څخه پرشا شوي، بلکې داټول د هغه مقدس او تاریخ ساز جهاد او مقاومت نتیجه او برکت و چې نیږدې دوه لسیزې افغان ننګیالي ولس د افغانستان د اسلامي امارت ترچتر او سیوري لاندې ترسره کړ ، هغه مقاومت او قربانۍ چې تعبیر او تفسیر یې د قلم په نوک ناشونی او ناممکن دی.

زمونږ په یاد دي چې کله امریکایانو په افغانستان یرغل راوړ ، د هغه وخت د دفاع وزیر (رمزپیلد) په کابل کې یوه خبري کانفرانس ته ددې پوښتنې په خواب کې چې دجنګ ترڅنګ له طالبانوسره د خبرو او منلو کوم تیاری او سوچ هم لري ؛ پیل په ډیر کبر او وحشت وویل چې نه ؛ طالبان زور د څمکې په سر وجود نه لري او نه د دې حق لري چې په کومه سیاسي پروسه کې ملحق اوشامل کړل شي ، هغوئ به یاتسلیږي او یا به وژل کیږي !!

د امریکا او رمز پیلد په فکر هماغه طالبان چې هغوئ نیست او نابود ګڼلي وو او په هیڅ ډول حقوقو ورته نه قائیلیدل، د الله تعالی په مرسته او مدد بېرته هغه قوت او څواک اختیارکړ چې د چا حیره رمز پیلد اوبوش څه چې د هغوئ پلرونه یې هم مني چې هغوئ یو نه ایلیدونکی طاقت او فولادي نظریه ده؛ څکه امریکا، ناټو او نورو جنګي اشربانو یې هردول وحشت او بربریت وکاراوه ترڅو طالبان تسلیم او یایې خپا و پلټ و ستراتیژیو منلو ته اماده کړي او یایې لکه الجیز ګلبدین له خپلو ټولو ارمانونو او غورځو پرزو تیر کړي او د کابل کرغیړن رژیم په خوسا ډنډ کې یې واچوي.

لـه دغـو ټولـو ازمويـنـو او طلسـمونو ورسـته امريکا پوه شوه چې زور، زر، فريبونه او شيطانتونه پې نور نابود او پې مانا دي؛ نو خپـل نجـات او پـرده پې په دې کې وليدله چې اسلامي امارت د ورکيـدو، لیرې کيدو او منځوي کيدلو پرځای، دمنطـق، خـبرو اوسـولې لارونيسي

امريکايانو فکر نه کاوه چې اسـلامي امـارت به دومره ژر له دوئ سره د خبرو او مذاکراتو مېز ته کيني، دوئ په دې باور وو چې اسـلامي امـارت بـه يواځې د پوځي ډګر اتلان او ميړني لـري، پـه سـياسي ميدان کې بـه ياحـاضر نـه شي او کـه حـاضرهم شي ډيرسطحي اوبې تجربې خلک به وي، په لنـډ وخـت کې به يې په دول دول لومو او دامونوکې راګيرکړي ، دروان مقاومت روحيه به خداى مکړه متزلزله کړي ، نظامي طالبان به په سياسي طالبانو بدګمانه کړي ، سـياسي طالبـان بـه نظاميـانو سره پـه واټـن کـې وغورځوي او په دې خـبرو ابـو کې بـه امريکايـان خپل د خوښي ماهيان ونيسي

ولې کومه متوازنه د ډيپلوماسي او سـياسي مسـير چې اسلامي امارت پرمخ بوتله او په کومه حوصله او ځيرکتيا يې له امريکايانو له لسو ډيـر پراونـه سرتـه ورسول، ټوله دنيا يـې ځانتـه حيرانـه کـړه، د قطـر د سياسي دفتر د يوه غړي خبره ده، چې ګڼـو هيوادونـو دوئ تـه ويـلي چـې د سـولې کـوم بهيـر تاسـې لـه امريکايانو سره سرته ورساوه دا ډير کاميـاب و خکه فکر داسې کيده چې طالبان به خامخا د امريکـا پـه کـوم سـياسي دام او فريـب کـې راونښـلي او نظـامي طاقت ته به يې ضربه ورکړي؛ خو ترپايه امريکايان ونه توانيدل. د دغو هيوادونو هدف دا و چې طالبـان يې په خپل نظامي ميدان سربيره په سـياسي ډګـر کـې هم پياوړي بلل.

امريکايانوډيره هڅه وکړه چې د کابـل مـزدور او مړژوانديز رژيم ته په سـياسي ميـدان کـې چـانس ورکړي، جګړه بين الافغاني وبولي او خان دريم ګړی معرفي کړي، د امارت مرکچيانو يې دغه ټول فريبونـه شند او دړې وړې وګرځول، په واضحو تکو يې ورته وويل چې د کابل رژيم ستاسې پيـداوار، سـتاسې پـه ګوتو جـور او سـتاسې پـه مرسـتو ژونـدی دی، هـيڅ افغاني او ملي پشتوانه نه لري.

اوس اوس بيا امريکايانو دا پلمه پيل کړې چـې جګړه دې کمه او اوربند دې وشي، امارت ورته وايي چې جګړه تاسې راوړې، اور تاسې بل کـړی، د دغـو ټولو خبرو مسؤليت ستاسې په غاړه دی، له افغانستان څخه د خپلو پوځيانو د وتلو معاهده لاسليک کـړئ، خپل جنګي او قاتل ماشين له دې ځايه نقل کړئ، پـه هماغه ورځ په افغانستان کې سوله، امـن، اوربنـد او ارامي راځي.

امريکايانو اوس همدغه بهانه غاړې ته اچـولې او هڅه کوي چې د اوربند په نامه د اسـلامي امـارت جهـادي موقـف تـه زيـان ورسـوي او د مجاهـدينو حوصلې اخـلال کـړي؛ خـو امريکايـان بـه پـه دغـه شـيطانت کـې هـم کومـه ګټـه ترلاسـه نـه کـړي، د مذاکراتي ټيم غړي اوسـياسي مسـؤلين کلـک متوجـه دي، که خليلزاد هرځومره منډې تږې ووهـي، هغـه متل دی چې (څې څې اوبازو له به راځي)

د دښمن په هوايي ځواک ځپونکي ګوزارونه

حبیب مجاهد

د افغانستان په اتلس کلن اشغال کې د امریکایي اشغالګرو او د هغوی د اجیرانو د قوت یوازینی عامل هوایي ځواک دی. په ځمکنیو جګړو او مخامخ ډغرو کې نه اشغالګر او نه یې ګوډاګیان دومره همت لري چې د حق د لارې زړورو مجاهدینو ته ټینګ شي. لکه څنګه چې په تاریخ کې ثابته ده چې یو مسلمان د څو کافرو سره مقابله کولای شي همداسې د اوس زمانې مجاهدینو هم ثابته کړې چې له کفارو او د هغوی له لاسپوڅو سره مخامخ په خورا لوړ عزم مقابله کولای شي. اما د دښمن استدراجي ټیکنالوژي په خاص ډول د امریکا هوایي ځواک هغه څه دی چې په افغانستان کې د اشغالګرو د بقاء سبب ګڼل کیږي او د جګړې په دګر کې یې دښمن ته د پښې ټینګولو فرصت ورکړی دی.

که څه هم له پخوا څخه بیا بیا د دښمن څرخکې، طیارې او بې پیلوټه الوتکې د مجاهدینو په مرېدونو کې رانسکورې شوي دي، مګر وروستۍ اونۍ د دښمن د څرخکو د سقوط له ارخه کمساري ګڼل کیږي. د بیلګې په توګه د جنورۍ میاشتې په لومړیو کېد اجیر رژیم درې چورلکې یو په بل پسې رانسکورې شوې. د جنورۍ په اتمه د چهار شنبې په ورځ پژواک اژانس خبر ورکړ چې د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز کې د تندر قول اردو مرکز ته نږدې د اجیرې اردو یوه MI۱۷ ډوله هلیکوپټر د تخنیکي ستونزو له امله غورځیدلې چې د پکتیا د امنیه قومندان په شمول په کې لس تنه تېیان شوي دي. د ګوډاګي رژیم چارواکو دغه سقوط بیرنۍ ناسته وګڼله. په همدې ورځ یووالس بجې د اجیرې اردو یوه بله M-۳۵ ډوله هلیکوپټر چې د فراه ولایت له مرکز څخه ددې ولایت پرچمن ولسوالۍ ته په لاره وه رانسکوره او دوه تنه پیلوټان یې ووژل شول.

همداراز د جنورۍ په لسمه د جمعې په ورځ سهار ٦ بجې د پکتیکا ولایت، زیروک ولسوالۍ اروند کیښام سیمه کې د اشغالګرو جنګي چورلکه راوغورځېدله، چې پر مهال یې چورلکه په مکمل ډول له منځه لاړه، ۴ تنه عمله

او پکې سپاره اشغالکر ټول ځای پر ځای ووژل شول.

د جنوري میاشتې د پیل په شان د دې میاشتې وروستۍ اونۍ هم د اشغالګرو د هوایي ځواک لپاره خونړۍ وه. د جنوري له ۲۵ مې تر ۳۱ مې د یوې اونۍ په لړ کې د اشغالګرو مجموعا پنځه الوتکې او څرخکې رانسکورې شوې. د جنورۍ په ۲۵ مه د شنبې په ورځ د اسلامي امارت ویاند ښاغلي مجاهد خبر ورکړ چې د بلخ ولایت په خاص بلخ او چهاربولک ولسوالیو کې د امریکایي اشغالګرو دوه بې پیلوټه الوتکې رانسکورې شوي دي. دا په داسې حال کې چې په وروستیو کې امریکایانو د بې پیلوټه الوتکو عملیات څو برابره زیات کړي چې اوس د هیواد د شرقي او جنوبي سیمو غوندې په شمالي ولایاتو کې هم بریدونه کوي.

په همدې ورځ داسلامي امارت بل ویاند ښاغلي قاري یوسف احمدي رسنیو ته وویل چې د اجیر رژیم یوه اکمالاتي چورلکه چې د کجکي ولسوالۍ مرکز ته یې اکمالات کول مجاهدینو په راکټ وویشته او رانسکوره شوه. د کجکي دالوتکې سقوط په هلمند کې دولتي ویاند عمر ځواک هم ومانه.

د جنوري په ۲۷ مه غرمه مهال مجاهدینو د غزني ولایت په دهیک ولسوالي کې د امریکایانو یوه لویه جاسوسي الوتکه رانسکوره کړه. دغه الوتکه چې د دهیک په سدوخیلو کې کلي کې رانسکوره شوه د خپل ډول خورا پرمختللې الوتکه وه. دغه الوتکې چې E-۱۱A نومیږي د امریکا پوځ یوازې څلور په واک کې لري او لسګونه میلیونه ډالره قیمت لري. دغه الوتکه په افغانستان کې د ځمکنیو او هوایي ځواکونو تر منځ د مخابروي ارتباط ټینګولو لپاره کارېږي. په غزني کې غورځیدلې الوتکه د کندهار له هوایي اډې پورته شوې وه.

رسنیو خبر ورکړ چې د امریکا د دې جاسوسي طیارې په سقوط کې د سي ای پي مشهور جاسوس، مایکل دي اندریا هم وژل شوی دی. د سي آی اې دې مشهور جاسوس په عراق او افغانستان کې د امریکا استخباراتي او جاسوسي فعالیتونه مخته وړل. دامریکایي جاسوسي طیارې انځورونه او ویډیوګانې چې امریکایي جاسوسان یې د سوځیدو په حالت کې ښودل څو ورځې په رسنیو کې ګرځیدل. د امریکایي جاسوسانو او بمبارکووتکو دغه حالت ځکه د افغان اولس لپاره په زړه پورې و، چې په همدې ورځ رسنیو وویل چې امریکا په۲۰۱۹ کې پر افغانانو باندې۷۴۲۳ بمونه اورولي دي چې په اوسط ډول هره ورځ ۲۱ بمونه کیږي.

په کومه ورځ چې په غزني کې امریکایي لویه جاسوسي الوتکه نسکوره شوه په همدې مانښام د پکتیکا په مرکز ښرنه کې د اجیر اردو یوه څرخکه هم رانسکوره شوه چې په کې ګڼ شمیر پوځي کسان له منځه لاړل.

د دښمن د هوایي ځواک دغسې له منځه تلل او پرلپسې د څرخکو او الوتکو رانسکوریدل ښیي چې ان شاءالله د د الله تعالی په نصرت سره د دښمن استدراجي هوایي تخنیک او ځواک هم د زوال په حال کې دی چې همدا د دښمن د شکست او تیښتې پیلامه ګڼل کیدای شي.

جهاد بر ضد فساد و اشغال، دو رهبری مثالی امارت

بخش اول



ذبیح الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی
ترجمه : ابوزبیر حبیب زاده

الحمدلله و کفی والصلوة و لسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد :

امارت اسلامی نعمت بزرگی از نعمت های پروردگار است، که در شرایط بسیار تلخ برای افغان ها عطا نمود.

محض سخن گفتن و تصور کردن برای اصلاح اوضاع، کار آسان است. اما پیاده کردن آن در صحنه عمل و از بین بردن بحران ها و یا مقابله با آن، کار بسیار دشوار، حساس و طاقت فرسا است.

مختصرا باید بگوئیم که دو رهبری مهم به دوش طالبان قرار گرفته بود. طالبان هر دوی آن را به نحوه بسیار احسن انجام دادند.

سال ۱۴۱۵ هجری قمری :

هرگاه رژیم کمونیستی در افغانستان شکست خورد و بجای آن مجاهدین وارد کابل شدند، در ظرف چند ماه تقریبا تمام افغانستان به صحنه جنگ های تنظیمی تبدیل شد، قومندان های تنظیمی در هر ولایت پاتک ها ایجاد کردند. شکنجه مردم، چور و چپاول دارایی مردم، تجاوز بر آبرو و حریم شخصی مردم، و هر آن کاری آغاز شد که بشریت بر بدی و ناهنجاری آن، همصدا است.

در مرکز کشور (کابل) پنج جزیره قدرت به میان آمد :

گروه جمعیت اسلامی و شورای نظار در ارگ و غیرخانه، گروه حزب اسلامی در جنوب کابل چهار آسیاب و چهل ستون، گروه حزب وحدت در کارته سخی و افشار، ملیشه های گلم جم دوستم در بعضی بخش های شهر کابل و گروه اتحاد اسلامی به سرکردگی سیاف نیز در بخش کوچکی از پایتخت کشور سلطه داشتند.

این گروه ها همه روزه از صبح تا شب در شهر کابل با هم می جنگیدند، به نشانه ای از

بازسازی دیده می شد، نه هم تعلیم و تربیه درکی د شت. نه کسی در فکر آبرو و عفت مردم بود و نه هم در پروای جان و مال مردم. هرگاه پایتخت کشور چنان ناامن بود، عملا هیچ دولتی وجود نداشت و هر چیز از کنترول بیرون بود، پس در ولایات طبعاً خودسری، انارشیسم و ملوک الطوائفی حاکم بود.

اگر در کدام جایی نظم قومی و منطقوی وجود داشت، آنجا مردم نسبتاً آبرو و دارایی خود را مصئون فکر می کردند. ما در جاهی که نظم قومی ضعیف می بود و وابستگی درمیان مردم وجود نمی د شت، آن جا قومندان هی تنظیمی، تفنگسالاران و اوباشان معتاد به مواد مخدر، از هیچگونه ظلم و وحشت در برابر مردم دریغ نمی کردند. هر روز هزاران رویداد تجاوز بر جان، مال و آبروی مردم رخ می داد و مردم سرگردان و سراسیمه بودند.

برای نجات ازین وضعیت اسفبار، هیچ نهاد اسلامی، بشری و بین المللی چیزی در توان نداشت و یا انجام نمی داد. هیچ پروفیسور، کارشناس، متنفذ قومی و یا شخصیت دیگری طرح و توانایی برای کنترول این وضعیت دردناک نداشت. حالت آنقدر سرسام آور بود که در کوتاه مدت، هیچ امیدی برای بیرون رفت ازان بحران برده نمی شد.

سازمان ملل متحد، پیمان نظامی ناتو، مریکا، کشورهای غربی، کانفرانس اسلامی، کشورهای با نفوذ اسلامی، کشورهای همسایه و منطقه، تماشا می کردند و اوضاع روز به روز بدتر می شد.

دران روزگار حساس و متشنج، یکتن قومندان پیشین جهادی و شاگرد فعلی درس های دینی (امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد، رحمه الله) در منطقه سنگسار ولایت قندهار با چند تن رفقای محدود خود برای کنترول وضعیت، مشوره نمود.

محترم ملا محمد عمر مجاهد چون در زمان جهاد بر ضد شوروی، قومندان مخلص و پکباز جهادی مانده بود، تحمل این را ند.شت که آرمان های او و دیگر مجاهدین راستین هدر برود و نه هم تاب تماشای تجاوز بر آبروی مردم و چور و چپاول دارایی هموطنان خود را داشت، بناً نخست برای تطبیق پلان خود، در منطقه زنگاوات ولسوالی پنجوایی ولایت قندهار از عالمان دین استفتا، نمود.

علمای مشهور منطقه برای او فتوی دادند که برای کنترول اوضاع، گام نظامی بردارد. او چند رفیق مخلص را با خود یکجا نموده، به تاریخ ۱۵ محرم الحرام ۱۴۱۵ هجری قمری تحریک اسلامی طالبان را آغاز نمود.

نخستین مرحله بزرگ آزمونی :

پس ار معرکه ها و پیروزی های زیادی، ۱۵۰۰ تن عالمان دین از سرتاسر کشور به تاریخ ۱۵ ذوالقعده ۱۴۱۶ هجری قمری در شهر تاریخی قندهار گردهم آمدند و (مرحوم) ملا محمد عمر مجاهد را به حیث زعیم کشور تعیین کردند و امیرالمؤمنین لقب دادند. از همان روز مرحله اول و بسیار دشوار رهبری امارت اسلامی آغاز شد

بنا بر فیصله علما، مرحوم ملا صاحب به حیث امیر تعیین شد. رهبری امانت بزرگ الهی است و این امانت به دوش یک طالب قفان سپرده شد. اما مرحوم ما صاحب ازین آزمون بزرگ چنان عهده برآ شد که هیچکسی از نگاه شرعی، نمی تواند او ر مورد نقد و سوال قرار دهد. ان شا، الله تعالی

رهبری کشور در حالی به دوش امارت اسلامی نداخته شد، که کشور به ویرانه و

مخروبه تبدیل شده بود. هیچ زیر بنای دولتی وجود نداشت و تمام تاسیسات دولتی کامل از بین رفته بود. زورمندان، دزدان، باندهای شر و فساد و اوباشان تنظیم ها، کشور عزیز را آنقدر کوبیده بودند که قلم توان نوشتن آن را ندارد. تجاوز علنی جنسی، کوبیدن میخ بر سر مردم، رقص مرده، تجاوز گروهی بر عفت زنان و فجایع دیگری بود که هر روز تکرار می شد.

امور کشور در حالی به زعیم اول امارت اسلامی سپرده شد که تمام نهضت او برای تغذیه، خانه به خانه می گشتند و از مردم نان جمع می کردند و مجاهدین خود را نگه داری می کردند. هیچ اقتصادی وجود نداشت. هیچ پشتیبانی خارجی وجود نداشت و همه چیز تنها و تنها با توکل بر ذات پروردگار به پیش می رفت.

امارت اسلامی آوردن امنیت و حاکمیت نظام شرعی در کشور را، از همه مهم تر می دانست، زیرا نظام شرعی آرمان پاک یک و نیم ملیون شهدای جهاد بر ضد شوروی بود. همچنان مصئونیت و عفت هموطنان مظلوم ما آنقدر کوبیده شده بود که امنیت یک شب و روزی را هم برای خود غنیمت می دانستند.

امارت اسلامی این دو کار را در سرفهرست اهداف خود قرار داد و نظام شرعی را با کمال متانت و تدبیر در همه آن ساحاتی که در کنترول داشت، تطبیق نمود، و نیز چنان امنیت مثالی را برای مردم به ارمغان آورد که مردم از طرف شب دروازه های خانه های شان را نمی بستند. زیرا احساس هیچگونه خوف و خطر نمی کردند

کسی که در تلاش دردی می بود، گرفتار می شد. همچنان کسی که در خیال تجاوز بر آبروی کسی می بود، دستگیر و به پنجه قانون سپرده می شد. حتی اگر کسی در بازار جنگ عادی فزیکی می کرد و یا دشنام می داد، یک عسکر امارت اسلامی می رسید و جنگ را پایان می داد.

من خودم شاهد ده ها صحنه های هستم که دو نفر با هم درگیر می شدند، یک طالبی را خدا برابر می کرد و او مشکل را حل و فصل می نمود. جهانیان و جهت های که برای کنترول اوضاع افغانستان هیچ پیش بینی نمی توانستند، با آمدن اینگونه امنیت حیران ماندند.

این مرحله آزمونی رهبری در حالی جریان داشت که امارت اسلامی هیچ تجربه و سابقه کاری و آموزش های مسلکی و تخصصی نداشت، بلکه همه کارها به شکل بسیار عادی و ساده عملی می شد. خداوند متعال فضای آرام و آبرومندانه را برای مردم به وجود آورد.

امارت اسلامی در حالی بر ۹۵٪ خاک کشور حاکم شد، که کشور عزیز همانند بیمار شدید با مشکلات و تکالیف گوناگون دست و گریبان بود. فقر و گرسنگی به اوج خود رسیده بود، بسیاری مردم بیکار بودند، پول کشور به مثابه نیست بود، تجارت از سر نو آغاز شده بود و آبادی و بازسازی از صفر شروع می شد. اما با این همه ناگواری ها، مردم از برکت حاکمیت نظام اسلامی در مورد امنیت و عفت خود مطمئن بودند. امنیتی که در تاریخ اخیر کشور بی پیشینه بود

رهبری امارت اسلامی چنان قوی بود، که مردم را از هرج و مرج و بی نظمی در امن ساخت، کشوری را که در پرتگاه تجزیه و چند پارچگی قرار داشت دوباره تحت حاکمیت واحد و مرکزی آورد، ادارات تعلیمی (مدارس، مکاتب، لیسه ها و پوهنتون ها) را به حد توان دوباره فعال نمود، حدود یکصد هزار شاگردان علوم دینی را از بودجه امارت تمویل می کرد، کشت و تجارت مواد مخدر را که بسیر رواج یافته بود دوباره به صفر رسند، برای چاپ و تبدیلی پول کشور دست به

کار شد، در عرصه روابط با شرکت افغان بیسیم به توافق ابتدایی رسید، موضوع پایپ لاین گاز از ترکمنستان جداً روی دست گرفت و مساعی خود را برای بازگشایی راه های نظامی و سیاسی دوام داد. این همه گرهای است که دران زمان، واقعا بالاتر از تصور و یقیناً کرامت پنداشته می شد.

رهبری و حاکمیت امارت اسلامی زمانی با مشکل رو برو شد، که جهان کفر این مودل نظام اسلامی را برای سیستم کفری خود (سیکولاریسم) خطر دانستند.

نخست، امریکا و کشورهای غربی امارت اسلامی را به سبب پیاده کردن حدود شرعی، به نقض حقوق زنان و بشر متهم کردند. در حالی که یکسال پیش، کشته شدن همه روزۀ ده ها نفر درین کشور را کسی جرم نمی پنداشت و دولت آن وقت و گروه شر و فساد مشروع خوانده می شد. سپس در ادامه بهانه جویی ها، قضیه شیخ اسامه بن لادن - رحمه الله - مطرح شد و تلاش شد امارت اسلامی در شرائط دشوار جنگی و اقتصادی، با تحریم ها و ممنوعیت های جهانی مواجه شود.

این حالت ناگوار و ظالمانه تا زمانی دوام کرد که در سال ۲۰۰۱ میلادی واقعه ۱۱ سبتمبر رخ داد و امریکا فرصت یافت تا بهانه عملی برای تهاجم نظامی بر افغانستان به دست آورد.

امریکا پیش از تهاجم بر افغانستان، امارت اسلامی را تهدید کرد که هر چه زودتر اسامه بن لادن - رحمه الله - را به امریک بسپارد، وگرنه، امریکا بر افغانستان حمله می کند.

امارت اسلامی بر اساس غرور اسلامی و [illegible] به امریکا اجواب داد که اگر واقعا شواهدی در اختیار دارد که اسامه بن لادن در واقعه یازده سبتمبر دست دارد، آن را به محکمه امارت اسلامی بسپارد. برای امریکا یک ماه وقت داده شد. اما امریکایی ها این پیشنهاد را رد و سخنان تهدید آمیز خود را تکرار کردند.

امارت اسلامی بار دیگر پیشنهاد کرد که بر ی شیخ اسامه بن لادن در زمان دولت ربانی تابعیت افغانستان داده شده و حالا او تبعه کشور ماست. ز نگاه قانونی هم شما حق ندارید که یک شهروند کشور ما را از ما بخواهید و مجازات کنید. اگر شما بر محکمه ما باور ندارید، پس با اشتراک عالمان دینی سه کشور اسلامی به شمول افغانستان و عربستان سعودی محکمه اختصاصی تشکیل داده شود و شیخ اسامه توسط آن محکمه، محاکمه شود. امارت اسلامی شیخ اسامه را به آن محکمه که قابل اعتبار می باشد، می سپارد. اما امریکا که هنوز هم حرف از جنگ می زد و تهدید می کرد، این پیشنهاد امارت اسلامی را نیز رد کرد.

اگر رهبری امارت اسلامی نمی بود، افغنستان فیصله ای می کرد که از نگاه تاریخی شرمناک می بود و تا ابد تشخص و هویت اسلامی ما را زیان مند می ساخت. زیرا سپردن شیخ اسامه بن لادن رحمه الله به کفار، بر علاوه ازینکه از نگاه شرعی ناروا بود و رعب و دبدبه اسلام زیرپا می شد، بلکه در تاریخ بشریت نیز داغ سیاه بر پیشانی ما می بود. اما این رهبری مسلمان، با تقوی، غیرت مند و با جرات امارت اسلامی بود که در برابر دشمن سر ننهاد و یک مسلمان را به کافر تسلیم نکرد.

ادامه دارد....

د وعدونه د امریکا شاتګونه

او پر امارت یې نوی تهمت

حسن روی

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دامریکا دباندنیو چارو وزیر پومپیو ازبکستان ته دسفر پرمهال دخپلوخبرو په ترڅ کې وویل دي چې دافغانستان دستونزې دحل په اړه دموافقې تر لاسلیک وروسته دطالبان باید دتشدد په راکمولو کې دپام وړ شواهد وړاندې کړي ؛ طالبانو تېر څل خبرې له ناکامې سره مخامخ کړې خکه چې دوئ خپلوتعهد تو ته ژمن نه وو پاتې شوي و نه یې دتشدد په راکمولو کې محسوسه اراده شکاره کړې وه .

داسلامي امارت ویاند محترم ذبیح الله مجاهد دپومپیو څرګندونو ته په خواب کې وویل دي چې اسلامي امارت دمشکل دحل اړه او توان لري ،دمذاکراتو بهیردترمپ تویټ ، د مریکا متعددو غوښتنو، په امریکا او کابل کې دچارواکو اختلاف تکنې کړی.

زمور موقف اصولي اومتحد دی ؛ دریځ مو دمقابل لوري په خبر متزلزل ندی

دامریکایانو اصلي خبره به دنړی زیاترو خلکو ته معلومه وي خو په تېرو ۱۸ کلونو کې افغانانو ته ددوئ اصلیت تربل هرچا زیات روښانه شو ؛ مور ولیدل چې امریکایان خومره ظالمان او وحشیان دي نو په هماغه اندازه دروغجن ، وعده خلاف مکار او فریبکار هم دي.

داسلامي امارت دسیاسي کمیسون دمشرانوغړو اودلوړ پوړي امریکایي هیئت ترمنځ کابو ۱۰ میاشتې مذاکرات روان وو ؛ دواړو خواوو ډیره زیاته خواري کښلې وه ؛ په نولو امورو اتفاق رامنځته شوی و؛ خبره یواځې دنړون

لاسلیک ته پاتې وه خو چې امریکایانو ته معلومه شوه چې سیاسي ډګر کې یې څه ترلاسه نکړل نو یوه کوچنی اوعدې پیسه یانې په کابل کې دطالبانو په لاس د یو امریکایي وژل کېدل یې پلمه کړل ټرمپ په یو ټویټ په هر څه دابطال کرښه رښکله اوټوټې هڅې یې دخاورو سره خاورې کړې

ټرمپ دا پیښه په داسې حال کې دمذاکراتو دودرولو لپاره پلمه کړه چې له تړون رامنځته کېدو وړاندې د دواړو ړخونو تر منځ پر یو بل دبرید نه کولو هیڅ کوم تړون او تعهدنه و رامنځته شوی .

طالبان خو دامریکا مقابل جنګي لوری دی نو دمذاکراتو په جریان کې یې چې ورباندې حملې کولې چا پرې نه شو ملامتولی ځکه چې پریو بل دحملو نه کولو کوم تعهد شتون نه درلود.

دمذاکراتو په جریان کې د ولسي-وګړو دوژلو وحشي-لړی هم نه یو ځې داچې نه وه تم شوی بلکې پراسلامي امارت دفشار راوسلو په موخه یرغنګرو اوګوډاګیانو په بمبار وشپنو چاپو کې په بې ساري ډول زیاتوالی راوست چې داسلامي امارت نمایندګانو څوکرته له امریکایي اړخ نه مخامخ ددې لړی د ودرولو غوښتنه هم کړی وه اودامریکایانو دانکارنه پس یې چې ورته بېلګې وړاندې کړی وې نو دبهرنو قواوومشر جنرال میلر ددې لړی د ودرولو وعده هم کړی وه چې متأسفانه دلته هم دې وعده خلافوپه خپلې وعدې عمل نه و کړی

نو لنډه داچې دمذاکراتو په رامنځته کېدوجنګ نه و ودرېدلی او په دې روان جنګ کې څرنګه امریکایانو خپل عملیات روان ساتلي و همدارنګه ددښمن پرضد اسلامي امارت دعملیاتو لړی هم جاري وه نو یو دبل پر وژلو ملامتول او له دې امله مذاکرات په ټپه ودرول بې معنی خبره او داسې نه وړه اقدام وچې ټولې نړۍ یرې امریکا ملامته کړه .

که دامریکایانو سره داسلامي امارت کومه معاهده موجود وی امریکایانو باید هغه معاهده نړۍ ته وړاندې کړی وای ترڅو یې پرې اسلامي امارت هم ملا مته کړی وای لکه چې امریکایان یې ملامت کړل .

افغان مومن ولس اوبیا په ځانګړي ډول اسلامي امارت ته چې امریکایي واکمن دلوی دښمن په نظر ګوري نو ورسره غدر ، وعده خلافي اودغولو هڅې خو نه دوئ خپل کمال ګڼي خو آیا دوئ ګڼي خپل ولس سره په کړو ژمنو بیلګ ودرېدلي دي؟ امریکایي ولس څه غوړ؟ ولسمشران ورسره څه وعدې کوي اوبیایې عمل څه وي ؟

له نړیوالو رسنیو له لارې ټوله نړۍ له دې خبرې خبره ده چې اوس نه بلکې له ډېر وړاندې دامریکایي ولس ، پوهانو اوزیاترو سیاستوالو یقین ته داخبره پرېوتې ده چې دافغانستان جګړه دګټلو چانس نه لري نوځومره چې ژر کېدای شي، پکار ده چې نور له دغې ناکامي جګړې نه امریکا خپلې پښې سپکې کړي.

تر دی چې امریکایان اوس له واشنګټن نه غواړي چې د طالبانو له لوري اوربند او یاد جګړې کمولو په انتظار کې دی نور په افغانستان کې خپل خواکونه نه پرېږدي بلکې یې له ځنډ او خنډ دې یې ترې ژرتر ژره راوباسي .

د ولس همدې غوښتنې ته په پام سره امریکایي سیاستوالو د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو په اړه په وار وار ژمنې کړیدي خو پلي کړي یې نه دي.

مخکې ولسمشر بارک اوباما ژمنه کړې وه چې تر ۲۰۱۴کال پورې به جګړه پای ته ورسوي خو تر۲۰۱۶ کال پورې یې نه یو ځې دا چې جګړه پای ته ونه رسوله بلکې د عسکرو شمېر یې نور هم زیات کړ.

همداراز ولسمشر ټرمپ د ټاکنیز کمپاین پرمهال په بیا بیا دا جنګ د سر، مال او وخت ضیاع بلله ؛ او ویل به یې چې دبریالیتوب په صورت کې به دا

جنـــگ ودروي او ټـــول مريکايي عسکر به خپل هېواد تـه راو عـواړي خـو د ولـس او ـړی سره کـړې دې ژمـنه کـې دهغـه دروغ او منافقـت ټـولې نړۍ ته ښکاره دی .

همدا تېر کال هغه بيا ژمنه وکړه چې تر ۲۰۲۰ کال پورې به ټول سرتېري هيواد ته را ستانه کړي.

خو پرځای د دې چې دا لـوړه ژمنـه پـوره کـړې، ټرمـپ دولس په سترګو کـې دخاورو چولو په موخه د ۴زره سرتېرو د راکمولو خبره رامخې ته کړه چې تردې دمه يې په دې ژمنې هم يو فيصد عمل ندی کړی .

دتېر ۲۰۱۹م کـال دپيـل په شپو ورځو کـې پـه امريکـا کې داسې اټکلونـه کـېدل چې ممکن واشـنګټن لـه رتلـونکي دسـمبرنه وړانـدې شـاوخوا ۱۴۰۰۰ زره امريکـايي عسـکر د افغانستان لـه ناکـامې جګـړې څخه را وباسي او خپلو کورونو تـه يـې راسـتانه کـړي خـود واشنګټن عمل دا ټکلونـه هـم ناسـم ثابـت کـړل. دټرمـپ قـداماتو تـه پـه پـام سره مريکايـان روان حالـت هيلـه بسـونکی نـه ګڼـي اوپـوهېږي چې ټرمپ سولې ته ليوالنيا نـه لري.

موږ هم پا ې پوهېږو چې د مريکايي ولـس دغوښتنې برعکس دټرمـپ په خبر امريکايي مشران اوپر دوئ مسلط دوسلو لـوی سـوداګر خپلې مـادي ګټې دجنګ په دوام کې ويني نو داچارواکي به هم دخپل ولس اونړۍ دغولولو پـه موخـه دمـذاکراتو اوسـولې لـه لارې دسـتونزې دحـل او دخپلـو فوځونـو دراويستلو ژمنې کوي او هم به دجنګ د اوږ دولو هڅې جاري ساتي .

موږ پوهېږو چې د جنګ په دوام کې زموږ دښمن تـه شـه ډېـر مـالي او ځاني تلفات ور اوړي په دې تېرې يوې اوونۍ باني دروان ۲۰۲۰کال دجنورۍ له ۲۵ مې نېټې نه تر ۳۱ مې نېټې پورې پـه هلمنـد ملخ ، پکتيکـا اوغزني کـې دمجاهدينو يه لاس ۵ الوتکې اوڅرخکې رانسکورې شوې چې دجنورۍ په ۲۷ مې نېټې دغزني ولايت دده يک ولسوالۍ په سـدوخېلو کـلي کـې دامريکـايي سترې او دخپل ډول خورا پر مخ تللې جاسوسې طيارې رانسکورېدل پکـې پـه اشغالګر دښمن داسې ګوزار و چې مـلا يـې ورماتـه کـړه ؛ دا ډول طيـارې چـې لسګونه مليونه ډالر قيمت لري دامريکا فوځ يواځې ۴ دانې لري چـې دځمکنـو اوهوايي فوځونو ترمخ درابطې جوړولـو کـارترې اخسـس کېـدلو ؛ رسنيو خبر ورکړی چې پدې پېښه کې دسي آی ای مشهور جاسوس مايکـل بي انـدريا چې په افغانستان او عراق کې يې د مريکا ټول جاسوسي کارونه مخ په وړنـدې وړل هم وژل شوی؛ پـه نړيوالـو رسنيوکې درانسکورې شـوې طيـارې اوپکـې دوژل شويو لويوجاسوسانو خپاره شوي عکسونه ځکه ټول افغان مومن مجاهـد ولس ته د ډېرې خوښۍ وړ وو چې په همدې ورځ رسنيو ووېل چې امريکـا يواځې په ۲۰۱۹م کال کې دافغانستان په مختلفوبرخو کـې پـر افغانـانو ۷ زره ۴ سوه ۲۳ بمونه غورځولي دي .

نو سره له دې چې په روان جنګ کې زموږ دښمن تـه ډېـر درانـده مـالي اوځاني زيانونه ور اوړي خو دا زموږ لپاره مهمه نـده چـې زمـوږ دښـمن تـه لـږ تلفات اوړي که ډېر ؛ زموږ لپاره دخپل دين نه دفاع او دخپـل ولـس اوخـاورې آزادي مهمه ده او دجنګ ددوام له امله چې موملت تـه سـتر مـادي اومعنـوي تاوانونه وراوړي ترې ځان خلاصول راتـه مهـم دي نـو چـې دښـمن دمـذاکراتو وړانديز کوي اوله اسانې لارې دسـتونزې دحـل تمـه پيـد کېږي طبعي ده چـې اسلامي امارت به يې په خوښۍ قبلوي خو ملت دې مطمئن وي چې ټولـه اتکـا په مذاکراتو نده ، که امريکايان په خپلو خبرو ودرېدل اوسـتونزه دمـذاکراتو لـه لارې حل شوه ډېره به ښه وي او که له مذاکراتو شاته شول نو دزور له لارې يې شړل يقيني دی ؛ نور يې دمقابلې توان له لاسه ورکړيدی ټـول مسـلمان ملـت او افغان ولس دې مطمئن وي چې ډېر ژر به دشرمېدلې ماتې سره تېښتې ته اړ شي ان شاءالله تعالی

اوربندي هغه څوک وکړي چا چې اوربل کړي

لیکوال ق عزیز

ځینې هغه کسان چې ځانونوته روښانفکري وایي په دې اند دي چې د اسلامي امارت جګړه پردې، مالي او سیاسي (د واک په سر) جګړه ده، بائیډن داجګړه ژر ترژره ودریږي اوربند وشي او طالبان بین الافغاني خبرو ته کینی دوئ وایی دلته د پردیو د ګټو لپاره جګړه کېږي، که جګړه له منځه لاړه شي د پردیو ګټې نه له ګوانس سره مخ شي او که جګړه رو نه وه د پردیو ګټې سه خوندي وي او هېواد به وران بچیان به مو شهیدان، خویندې به مو کونډې او راتلونکی به مو تیاره شي.

یاخو دده چې خلک په لوی لاس موضوعات سره ګډوي ترڅو یې له یو بل سره تړوپیر ونه سي او یا داده چې د دښمن د سړې جګړې ښکار شوي دي، د اسلام، افغانانو او افغانستان دښمنانو چې څنګه تعبیر ورته کړی په هغه یې باور جوړ شوی ده خپله یې په اړه د خپرني زیار نه باسي، بس همغه د کاني کرښه ده چې هغوی څه و ویل ځکه چې هغوی سپورمي ته ختلې دنیا له دنده او له پاسه ویني په ټولو کړنو ښه پوهېږي او سه خبر دي، د هرې پېښې او هرې موضوع خپرنه هم له موږ څخه ښه کولی شي ځکه چې هغوی پرمخ تللي خلک دي او موږ وروسته پاتې (د درېیمې نړۍ) خلک یو.

داټول همه څه دي چې د اسلام او مسلمانانو دښمنانو زموږ د مسلمانانو په ذهنونوکې ورپېچکاري کړي دي، که نه نو اسلام تر هرڅه لوړ ده، تر انساني عقل، هم لوړ ده، اسلام چې ۱۴۴۰ کاله مخکې موږ ته کومه نقشه جوړه کړې ده هغه مو څه له خپلو مشرانو واورېدل چې پېښې یې تېرې شوي دي او یامو د هغو پېښو اثار لا په خپلو سترګو ولیدل، څه موږ نن په خپلو سترګو وینو او د روا هغو په اړه چې کومه نقشه د اسلام مبارک دین کښلې د هغو پېښو مقدمې نن په خپلو سترګو وینو

موږ هم منو چې دا جګړه پردۍ جګړه ده، خو د پردۍ جګړې تعریف څه ده؟، پردۍ جګړه څنګه تعریفوو؟، که د دښمن په تعریف باور لرو بیاخو له دانن څخه جګړه بندول پکار ده(د ځینو مخلصو روڼ خیالو په اند که طالبان په ریښتیا هم دې خاورې او ولس ته مخلص وي نو باید اوږد مهاله اوربند وکړي) او ځینې خو یې لا د حدیبیې صلحه په دلیل کې وړاندې کوي.

راځئ چې اول د پردۍ جګړې تعبیر وپېژنو! پردۍ جګړه دې نه به وایي چې مطلق جګړه وه هغه به پردۍ وي، په کور دې چا یرغل کړی وي که ته ورسره مقابله کوې قرباني ورکوې، زیار باسې شپه او ورځ کوښښ کوې چې هغه له خپل کورڅخه وباسې خپله حیا او ناموس خوندي کړې ستا د کور په انګړ او په کوټه کې دې چې پردی له بوټو سره ګرځي او ته یې د وېستلو کوښښ کوې نو به هم دا جګړه پردۍ وي.

نه! بلکه پردۍ جګړه هغه ده چې څوک د بل حا د ګټې لپاره جګړه وکړي، خپله یې سل به سله تاوان وي پکې یا یې پنځوس سله تاوان وي پکې خو ګټه یې نه وي پکې او ترټولو مهمه داده چې له اسلامي اساساتو څخه خلاف وي ځکه چې موږ مسلمانان یو هرڅه به د اسلام له نظره څېړو، اسلام موږ ته خپل او پردي، حق او ناحق راښودلي، ښه په کره ډول یې را پېژندلي زموږ لپاره همغه بسه کوي، هغه د اسلام تعریفونه زموږ، د پوهانو، پروفیسرانو او روڼ اندو له خبرنو او تعریفونو څخه ډېر لوړ، په ۱۴۴۰ کلنې اوږدې تجربې سره ثابت او ښه کره دي.

دلته په برحال په پښو ولاړ دځینو هیوادونو په رسمیت پېژندل شوي اسلامي امارت باندې پرته له کوم دلیل او جواز څخه یرغل شوی، د هېواد استقلال مو ترپښو لاندې شو، په امریکا کې جوړشوی او تپل شوی حکومت مسلط شوی، ټول واک له بهرنیو ځواکونو سره ده، مالي، پوځي، د تصمیم نیونې تر بیا رغونې، کلتوري ټولنیز او انفرادي پرمخ تګونو، د هېواد د زېرمو استخراجي او تعلیمي پرمختګونو پورې ټولې سرچینې مو د امریکایانو په واک کې دي نو مجبوره چې دوی سپین ته تور وایي موږ به هم تور ورته وایو، لکه د تېرو ټاکنو په څېر چې ټول واک یې په کابل کې د امریکا له سفیر سره وو د سې هرڅه د دوی په اختیار کې دي نو بیا څنګه جګړه زمونږ لپاره تاوان ده او د دوی لپاره ګټه ده.

اسلامي امارت خو د خپل هېواد د اشغال له منځه وړلو، خپل هېواد د نورو هېوادونو په داخلي چاروکې له غیر اصولي د پردیو د ګټې په موخه له منفي لاس وهنې، د مسلمان ولس دین، عقیده، او فکري روزنه له خرابۍ څخه د ژغورنې په موخه، د اسلام له بنیادي اساساتو لکه کلیمه او داسې نورو شعایرو څخه د دفاع په موخه د یرغلګرو ځواکونو په وړاندې د اسلام د مقدس دین دغوښتنې په اساس جګړه کوي.

د روسانو او امریکایانو په وړاندې د جګړې توپیر روسانو غوښتل چې د ګرمو اوبو له لارې ځان خلیجي هېوادونو ته ورسوي چې په پای کې به امریکا او اروپاهم نه وای ترې خلاص شوي، او دایې د دې لپاره کول چې د خپل هرډول سوداګري لپاره بازارونه راخپل کړي او په ټولو هېوادونو سیاسي ولکه

ولري د دې کار لپاره يې اول د افغانستان خاوره ترپښو لاندې کړه يرغل يې ورباندې اوکه. افغانستان يې چې کله اونيوه په افغانستان کې يې د اسلامي قانون له منځه وړلو لپاره بنيادي کارونه پيل کړل، په ډاګه يې د زر او زور له لارې د کمونستيت ترويج ته کار پيل که، د ولس اسلامي عقيدې يې ور خرابې کړې، له خلکو څخه يې د حيا پرده پورته کړه، د ښځو او نرو ترمنځ يې توپير ختم که ښځې اونر يې سره کډ کړل، او داسې نورې په سلګونو د اسلام او انسانيت ضد کارونه يې وکړل ترڅو افغانستان په فکري، عقيدوي، سياسي، مالي او فزيکي ډول غلام شي.

نن امريکا هم په ورته پلان او فکر راغلې ده، پورته ټول اعمال ترسره کوي خو څوک د اوخوره په عنوان او څوک د ډک شه په عنوان، امريکا غواړي چې د افغانستان له لارې اسيايي هېوادونه، روس، چين او برصغير د ايران په ګډون له هر ډول ولکې لاندې اوساتي که هغه سياسي وي او که مالي، افغانستان به د ټولې سيمې په وړاندې د خپل يوه مورچل په توګه کاروي.

که له دې زاويې ورته اوګورو چې په افغانستان کې د څه لپاره جګړه روانه ده نو سوال به مو حل شي، د اسلامي نظام د له منځه وړلو په څنګ کې دلته امريکا غواړي د سيمې ځواکمن هېوادونه هم تر څار لاندې ونيسي؛ په ټولو ګاونډيو هېوادونو کې به فساد وي، امريکا به لاسوهنه پکې کوي و ترڅار لاندې به يې نيسي خو په مقابل کې به يې افغانستان ودانېږي مالي ګټې به راځي، اين خيال است ومحال است وجنون، چې د طالب د توپک د شپېلۍ دود ودرېده بيا به امريکاته ستا زېرمې لېږدول پيل شي، امريکا به په افغانستان کې په امن کې شي د پاتې کېدا لپاره به په خپلو غلامانو باندې اوږد مهاله تړونونه لاسليک کړي

نو په داسې صورت کې چې خپل کور له پورته بد بختيو څخه څوک ژغوري او له امله يې که له امريکايانو او يا کوم بل ځواک سره څوک جګړه کوي دا به پردۍ جګړه وي؟ ځکه چې ګټه به يې پاکستان، ايران، تاجکستان، روس او چين ته رسېږي، نو د روڼ خيالو په اند به يې په وړاندې جګړه کول پردۍ جګړه وي خير که يې اسلامي نظام، اسلامي اقدار، د ولس اسلامي تربيه او د افغانستان زمکنۍ بشپړتيا هم ترسوال لاندې راوستي وي.

او که له دې زاويې ورته اوګورو چې د نورو هېوادونو څار به له افغانستان څخه کېږي، په نورو هېوادونو کې به له دې ځايه کوټې وهل کېږي، افغانستان به يو کمپ، مرکز يا يو مورچل وي نو دا بيا پردۍ جګړه نه ده نو څه ده.

دا جګړه پردۍ ده په وړاندې يې جګړه مقدس جهاد ده، د بل چا په کورکې به ستا له کوره ګوټې وهل کېږي او ته به بيا سرې سترګې ګرځې، نه! که خدای مه کړه د تکمو جګړه شوه بيا به د امريک په ځای په افغانستان کې د امريکا هډې ورباندې ويشتل کېږي چې له دې ناسور څخه ځان خلاص کړي او دا روڼ اندي به هم بيا پکې ايره ايره شي

غرب په کوم تهذیب ویاړي؟!

حافظ سید نور احمد سعید

زیاتره لویدخوال که پوهان اوسیاستوال دي او که عام وګړي ځان بشر- دوست، مهذب و متمدن ګڼي.خو مسلمانانو ته د ترهګرۍ، انتهاء پسندۍ او افراطیت ګوته نیسي. دوی د خپل تور فکراوړانده تعصب له مخې پر اسلام اومسلمانانو ډول ډول تورونه پوري کوي ، مسلمانان دتمدن دښمنان، د بشري حقونو په ځانګړې توګه دمیرمنو دحقونو سرغړونکي او نورو نومونو نوموي.

غربیان په خپلې ټیکنالوژۍ دومره غره شوي چې مسلمانانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول له خپل دین، کلتور او ټولنې څخه بغاوت تلقینوي، ګویاچې بیبه نو ددوی په څېر مهذب ژوند او متمدنه ټولنه ولري اودتخنیک اوصنعت و لوړو پوړیوته به وخیژي!!

سړی نه پوهیږي چې لویدیځوال په کوم فرهنګ ، تهذیب اوعمل ویاړي .

ایا لویدیځ په دې اخلاقي چلندویاړي چې پارلمانونو یې په کثریت سره دهمجنسبازۍ قوانین یاس کړل ؟

په دې خوشحاله دي چې دفحاشۍ او جنسي- بې لاری ریږنده (ایډر) یې هر کال دسلهاوو زره انسانانو ژوند اخلي؟.

به هغې ډیموکراسۍ ویاړي چې ددیکتاتورانو ملاتړي ،مشروع حکومتونه دبمونو په زور ړنګوي

اودخپلو حقونو غوښتونکي (مظاهره چيان) په ډله ييزه توګه قتلوي؟

دبيان ازادی په هغو لاسته راوړنو فخر کوي چې په امريک،ډنمارک، هالنډ،ناروې، فرانسې او ... کې يې داسلام اومسلمانانوپر ضدسپکونکي هڅې وکړي؟

دادیانو دمساوات او مذهبي زغم په هغه ډرامول خوښې څرګندوي چې فرانسې او نورو يې په تعميل پرمسلمانوميرمنو دحجاب بنديزونه ولګول؟

پر هغه تمدن ويارې چې په لومړی او دوهمه نړيواله جګړه يې په لسهاوو ملينونه انسانان دمرګ کومې ته وسپارل؟

پر هغه تهديب فخر کوي چې د شرابو، هيروئينو، قمار، و زنا بازارونه يې لګولي دي ؟ د بشري حقونوپر هغو روشونو ويارې چې په يويشتمه پيړۍ کې هم له مظلومو او غريبو انسانانوڅخه دغلامانو کار اخلي اودپير او پلور له مارکيټونو يې په لوبه بيمانه کلني عايد ترلاسه کوي؟

دنر اوښځې دمساواتو پر هغه کړنلاره فخر کوي چې ښځې يې دکارخانو، کمپنيو او ماکيټونو دشهرت ابزار ګرځولې اوناريته يې په بازارونو کې دمخالف جنس (ښځې) له کرايې او پير و پلور څخه دمادي احتاسو په څېر لوی مبلغ ترلاسه کوي؟

اوکه غرب پر هغې بشر دوستۍ ويارې چې امريکااوملګرو يې پر مستضعيفو ولسونو اتومي، کيمياېي اوبيلوژيکي وسلې استعمال کړې، ښځې اوکوچنيان يې دبې ۵۲، ډرون ،کروز، کلستيراو..... په وحشيانه حملوکې اولپه کړل ؟؟؟

نړيوال شهددي يوازې چې دمهذبې نړۍ په ننني پلازمينه (امريکا) کې په کال کې څومره جرمونه اوجنايتونه تکراريږي په ټوله اسلامي نړۍ کې دهغې نيمايې هم نه ترسره کيږي، همدالې جرمونه چې هم په اسلامي نړۍ کې پيښيږي لويه وجه يې داده چې مسلمانانوپه خپل دين پوره عمل نه دی کړی، کنه همدا نسبي جرمي کړنې به هم له اسلامي نړۍ څخه محوه شوي واى .

دمسلمانانو دموجوده ستونزوعمده علت دادی چې حاکمې طبقې او زياتره روشنګرايانو يې اسلام له دولتي چارواو ټولنيز ژوندانه څخه ايستلی اويوازې يې په شخصي- ژوندکې دخپلې خوښې مطابق حصرکړی دی.

که مسلمانان په خپل دين پوره پوره عمل وکړي يې له شکه ،وسنۍ اخلاقي اوټولنيزې ستونزې به يې له منځه ولاړې شي،ځکه جوته ده چې په اسلامي نړۍ کې موجوده ستونزې داسلام داجتماعي و سياسي نظام او اسلامي تهديب زيږنده نه، بلکې دلاړ ورکو مسلمانانو داعمالو څخه راټوکيدلې دي .اما لويديځوال چې اوس دکومو بد اخلاقيو و جرمونوسره لاس او ګريوان دي اصل سبب يې دوضعي قوانينوپيروي او غربي تهذيب دی .

د فلسطين د تاريخ مهم کړليچونه

عبدالستار سعيد

فلسطين چې د ارض الانبياء (شام) يوه مهمه برخه ده او د اسلامي امت لومړنۍ قبله مسجد اقصى په کې قرار لري د مسلمانانو لپاره يو له سپېڅلو مقاماتو شمېرل کېږي. فلسطين چې تر دېارلس پېړيو زياته موده د مسلمانانو وطن و له تېرو اوو لسيزو راپديخوا د مسلمانانو د مظلوميت او محرومېت سمبول ګڼل کېږي. د فلسطيني مسلمانانو د مظلوميت وروسنی مثال د امريکايي ولسمشر دونالډ ترمپ هغه ظالمانه طرحه ده چې غواړي دغه اسلامي خاوره د تل لپاره د يهودو په نام کړي او صهيوني دولت ته مشروعيت تر لاسه کړي. ددې لپاره چې د فلسطين د قضيې په پس منظر پوه شوي يو، په دې ليکنه کې درسره د فلسطين د تاريخ مهم پراوونه د او د عطف نقاط شريکوو. هيله ده چې د موضوع په روښانتيا کې درسره مرسته وکړي.

٦٣٦ ميلادي کال د فلسطين فتحه

په ١٥ هجري کال چې له ٦٣٦ ميلادي سره سمون خوري د فلسطين واک د روم له مسيحيانو خحه مسلمانانو ته انتقال شو. تر دې وړاندې فلسطين اود شام نورې برخې د هغو مسيحيانو لخوا اداره کېدلې چې د روم د امپراطورۍ تابع و. د اسلام د دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کې د شام د فتوحاتو په لړ کې فلسطين پرته له جنګه ونيول شو او د مسجد اقصى د کليانو د ترلاسه کولو لپاره حضرت عمر فاروق له مدينې منورې بيت المقدس ته سفر وکړ.

١٠٩٩ ميلادي کال د بيت المقدس سقوط

کله چې د اروپا مسيحيانو په اسلامي نړۍ صليبي بريدونه پيل کړل، د همدې حملو په لړ کې په ١٠٩٩ ميلادي کال کې بيت المقدس د مسلمانانو له لاسه ووت او صليبي مسيحيانو شغال کړ. بيت المقدس او د

فلسطين ډېرې نورې برخې ۸۸ کاله د صلبيانو تر اشغال لاندې وې او مسلمانان به خپله لومړنۍ قبله مسجد اقصی کې له عبادت څخه محروم وو.

۱۱۸۷ میلادي کال د صلاح الدین ایوبي کارنامه

فلسطین، بیت المقدس او مسجد اقصی ۸۸ کاله د صلیبیانو په لاس کې و. مسلمانانو یې د اوس غوندې په ببلتون د حسرت وښکې تویولې. ډیرو غازیانو د صلیبي اشغال د منلو هڅې وکړې. خو الهي تقدیر دغه امتیاز د ستر غازي صلاح الدین ایوبي په برخه لیکلی و. تر دې چې په ۱۱۸۷ میلادي کال کې صلاح الدین ایوبي د حطین په جنګ کې صلیبیانو ته عبرتناک شکست ورکړ. ورپسې یې بیت المقدس هم فتحه کړ او د قبة الصخره له آذان خانو یو ځل بیا د تکبیر نعرې پورته شوې. تر دې وروسته فلسطین او بیت المقدس د مسلمانانو په واک کې و، په ۱۲۲۹ میلادي کال کې صلیبیانو یو ځل بیا د لمدې مودې لپاره بیت المقدس اشغال کړ، خو بیرنه آزاد شو. بیا دا تاریخي خاوره هیڅکله د کفارو تر تسلط لاندې نه ده راغلې تر دې چې د شلمې پیړۍ په لومړیو کې عثماني خلافت سقوط شو.

۱۸۹۵ میلادي د یهودي دولت د نظریې مطرح کیدل

په نولسمه پیړۍ کې د یهودو صهیوني حرکت ډیر زور واخیست. د همدې حرکت یوه مشر هرتزل په ۱۸۹۵ میلادي کال کې د (یهودي دولت) په نوم کتاب ولیکه. نومورې دا نظریه وړاندې کړه چې د یهودو لپاره باید یو خانګړی او مستقل دولت جوړ کړای شي. نومورې د یهودي دولت لپاره درې سیمې مشخصې کړې، فلسطین، د افریقا یوګاندا او یا هم د جنوبي امریکا د ارجنتاین هیواد کومه برخه.

۱۹۱۷ میلادي کال د فلسطین اشغال

له ۱۹۱۷ میلادي کال وړاندې فلسطین د شام او حجاز په شان د ترکانو د عثماني خلافت تر واک لاندې و، په همدې کلونو کې کله چې د لومړۍ نړیوالې جګړې په مهال عثماني ترکانو شکست وخوړ او ټولې عرب مشتې سیمې یې له لاسه ووتې، فسطین او بیت المقدس د انګریزي اشغالګرو تر تصرف لاندې راغلل.

۱۹۱۷ میلادي د نومبر دوهمه د بالفور اعلامیه

د فلسطین له اشغال څومیاشتې وروسته د ۱۹۱۷ کال د نومبر په دوهمه د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر آرتور بالفور په فلسطین کې د یهودي دولت د تأسیس اعلامیه صادره کړه چې وروسته د بالفور په اعلامیه مشهوره شوه. دې اعلامیه د یهودي دولت فکر له یوې خیالي نظریې څخه د تطبیق مرحلې ته نږدې کړ او د دې دولت د تشکیل لپاره د انګریزي اشغالګرو په همکارۍ فلسطین ته د یهودو راتګ پیل شو.

۱۹۴۷ میلادي د فلسطین تقسیم او د اسرائیلي دولت تأسیس

د ۱۹۴۷ میلادي کال په نومبر میشت کې د ملګرو ملتونو سازمان د امریکا او انګلستان په فرمایش د فلسطین تقسیم او د یهودي دولت جوړیدل اعلان کړل. د دې تقسیم له مخې د فلسطین ډیره برخه (۵۷ فیصده) یهودو ته ورکړل شوې وه. خو یهود چې د اشغالګرو همکاري ورسره وه په دې یې هم قناعت نه درلود او د فلسطین اکثره برخې یې په زور ونیولې، فلسطیني مسلمانان یې د خپلو کلیو پریښودلو ته مجبور کړل په پای کې فلسطیني مسلمانانو ته د بیت المقدس شرقي خوا، دغه راز د اردن سیند لویدیځه غاړه او د غزې ټرانګه ورپاته شوه. نورې سیمې ټولې د اسرائیلي دولت برخه شوې.

۱۹۶۷ میلادي د جون میاشت د یهودي اشغال دوهمه مرحله

یهودي دولت د یوه ناسور په شان په منځني ختیځ کې را وټوکید او د ټولو عربو په ضد یې دښمني اعلان کړه. خو د هغه وخت عربي مشرانو د دې په ځای چې د اسلام او مذهبي جذبې په اساس له عاصبو یهودو سره جهاد وکړي د قومي جذبې په اساس یې ورسره مقابله پیل کړه. د مصر جمال عبدالناصر او د سوریې حافظ لاسد دواړه نه اسلامه بیګانه او د عربي نشنلیزم په جذبه کې غرق ول د دوی تر حمایه لاندې د فلسطیني مقاومت مشري هم د یاسر عرفات په نوم یوه سیکولر مراجه نشنلیسټ ته سپارل شوې وه. د امریکا، انګلستان او نورو په همکاري اسرائیلو په ۱۹۶۷م کال کې په لویدیځه غاړه، غزه، ختیځ بیت المقدس، د سوریې په ګولان او د مصر په سینا صحراء ناڅاپي حمله وکړه. د مصر هوایي ځواک یې په ځمکه ناست له منځه یووړ او یادې ټولې سیمې یې اشغال کړې. په دې دول مسلمانان له یوازینیو ورپاته سیمو هم محروم شول. د غزې او لویدیځې غاړې واک سرائیلي پوځیانو په لاس کې واخیست او لکونه مسلمانان یو ځل بیا په هجرت اړ شول. اسرائیلو نه یوازې د مسلمانانو سیمې ونیولې، بلکې د یهودیانو میشنول یې هم په کې پیل کړل چې تر اوسه جریان لري. د یهودو دې تعرض عربي نړۍ ته ټکان ورکړ. عرب مشران په همدې کال د سوډان په خرطوم کې سره جرګه شول او تعهد یې وکړ چې له اسرائیلو سره به هیڅکله جوړ جاړی نه کوي.

۱۹۷۸م د کمپ ډیوید توافق او د عربو د تنزل پیل

عرب مشرانو په لومړیو کې د اسرائیلو په دښمنۍ بشپړ اتفاق درلود. ځینې د مذهبي او ځینې د قومي جذبې په اساس د اسرائیلو په وړاندې حساس وو. خو په ۱۹۷۸م کال کې د سپتمبر په ۱۷ د امریکایي ولسمشر جیمي کارټر په منځګړتوب د مصر او اسرائیلو تر منځ یو توافق اعلان شو، چې له مخې یې مصر اسرائیلي دولت په رسمیت وپیژاند. دا موافق چې د مصر ولسمشر انور سادات او د اسرائیلو مشر محام بیګن لاسلیک کړ، د مصر او

سرائیلو د دوستۍ او سیاسي اړیکو پیل و، اسرائیلو له سینا شاتګ وکړ، مصر اسرائیلي دولت په رسمیت وپیژانده او اسرائیلي بیړیو ته یې له سویز کانالې د تیریدو لاره ورکړه.

۱۹۸۲ میلادي په لبنان د اسرائیلو برید

په ۱۹۶۷م کال کې چې د فلسطینیانو سیمې په خاص ډول لویدیځه غاړه اسرائیلو اشغال کړه، د یاسر عرفات په مشرۍ فلسطیني مبارزین اردن ته لاړل. همدې فلسطینیانو د ځینې اردني ځمکو په مرسته په اردن کې دومره قدرت ترلاسه کړ چې د اردن د شاهي حکومت اقتدار یې ونګاوه. په دې ډول د اردن د شاهي دولت او فلسطین پلوو ر منځ جنګ پیل شو چې د اردن په کورني جنګ یادیږي. اردن وتوانید چې د سورو هیوادونو په مرسته او د (تور سپتمبر عملیاتو) په شان په ظالمانه بریدونو سره فلسطیني مبارزین مغلوب کړي. فلسطیني مبارزینو لبنان ته مخه کړه او د دې هیواد له جنوبه یې په اسرائیلو بریدونه پیل کړل. اسرائیلو همدا حملې بهانه کړې او په ۱۹۸۲م کال کې یې په لبنان یرغل وکړ او د دې هیواد ډیرې برخې یې اشغال کړې. په لبنان کې د سرائیلو په وړاندې د مقاومت جبهات راپورته شول چې مهم یې د ایران په ملاتړ جوړ شوی د شیعه ګانو حزب الله ګوند و. اسرائیلو په ۱۹۸۵م کې د لبنان له ډیرو برخو شاتګ وکړ، خو د لبنان د جنوب ځینې سیمې یې تر ۲۰۰۰ م کال پورې له ځان سره وساتلې.

۱۹۸۷ میلادي د انتفاضې پیل

په اتیایمو کلونو کې د خبرو او سوله ییزو هڅو ناکامی او د الفتح او یاسر عرفات پخې تګلارې فلسطینیان دې ته وهڅول چې په بدیله لار غور وکړي. دغه وخت په ځنګلوري مصر کې احواي حرکت په قوت کې و چې په فلسطین یې هم اغیز درلود. دې حالاتو د حماس تنظیم را زرغون کړ چې دیني او جهادي فکر یې درلود. په ۱۹۸۷م کال کې په تولو اشغال شویو سیمو لکه لویدیځه غاړه، بیت المقدس او غزه کې فلسطینیانو په اسرائیلو بریدونه پیل کړل. چاودنو او استشهادي حملو زور واخیست. دغه پاڅون لومړنی انتفاضه ګڼل کیږي. د فلسطیني اسلامپالو دې خوځښت د یاسر عرفات موقف کمزوری کړ او نومورې مجبور و چې د خپل فعالیت د نمایش لپاره ګام پورته کړي.

۱۹۹۳ میلادي د اوسلو تړون

د خلیج په جنګ کې له بریا وروسته په منځني ختیځ کې د امریکا موقف ډیر پخوا ریات پیاوړی شو. مریکا د عربو او اسرائیلو تر منځ د منځګړتوب هڅې پیل کړې په ۱۹۹۱ میلادي کال د امریکا او شوروي په هڅو د عرب مشرانو او اسرائیلو تر منځ د مادریدکانفرانس دائر شو. په لومړي ځل د سوریې، اردن، مصر او فلسطین په شمول ګڼ عرب مشران له اسرائیلي چارواکو سره مخامخ کیناستل. همدې کانفرانس د اوسلو توافق

ته لاړه هواره کړه چې په ۱۹۹۳ میلادي کال کې د امریکایي ولسمشر بل کلنټن په منځګړتوب د یاسر عرفات او اسرائیلي مشر اسحاق رابین تر منځ امضاء شو. د دې توافق له مخې فلسطینیانو انتفاضه پای ته ورسوله او اسرائیلو په نیول شویو سیمو (لویدیځه غاړه او غزه) کې فلسطینیانو ته د خپلو کو تشکیلاتو دجوړولو اجازه ورکړه چې د یوه حکومت تمثیل کوي. حو له دې توافق وروسته هم د فلسطینیانو جهادي بریدونه او د اسرائیلو ظالمانه بمبارونه او څوښي عملیات جاري پاته شول. سرائیل په ۲۰۰۶ کې په بشپړ ډول له غزې ووتل خو د اردن سیند لویدیځه غاړه په خپل کنترول کې وساتله.

۲۰۲۰ د ټرمپ طرحه د پیړۍ معامله

د امریکا ولسمشر دونالد ټرمپ چې له یهودو سره نږدې ریکي لري، له څو کلونو یې د پیړۍ معامله په نوم د فلسطین د قضیې د حل لپاره د طرحې وړاندې کولو خبره کوله. تر دې چې د ۲۰۲۰ میلادي کال د جنوري په ۲۸ مه یې په سپینه ماڼۍ کې د اسرائیلي مشر بنیامین نتانیاهو سره په ګډه دغه طرحه اعلان کړه. د دې طرحې اساسي مقصد دا معلومیږي چې په ټولو اشغال شویو فلسطینی سیمو د اسرائیلو قبضې ته مشروعیت ورکړل شي. د دې طرحې له مخې به لویدیځه غاړه کې د اسرائیلو ښارګوټي او کلي د اسرائیلو خاوره ګڼل کیږي او مسلمانانو ته د کوچنیو جزیرو په شان کم مقدار ځای ورکول کیږي. دغه طرحه چې کاملا یو طرفه ده فلسطینیانو رد کړې، دغه راز د اسلامي نړۍ څنو هیوادونو سې هم په اړه خبرګډون نښودلی. کارپوهان وایي چې د ټرمپ طرحه د فلسطین قضیه حل کولای نه شي بلکې د نزاع په اور تیل پاشلای شي.

اخلاقي جوړښت د بري راز دی

ليکنه أبو إحسان عامر

اخلاق په اسلام کې ځانګړی مقام او اهميت لري، اسلام کې نه يوازي دا چې د اخلاقو پر جوړښت او تحسين ټينګار شوی بلکې شو اخلاقو ته د اسلام نوم ورکول شوی. اخلاق هغه الهي رحمت او هغه جنتي جامه ده چې اشخاص او ټولنې خو څه ، هر عبادت ورباندې ښکلی کيږي.

اخلاق د الله {تعالی} او د هغه درسول ﷺ د امر امتثال او د الله {تعالی} او د مخلوق د رضا خورا لنډه لاره ده.

الله {تعالی} انسان ته د کاميابۍ لارښوونه کوي او د اخلاقي جوړښت په اړه ورته داسې ارشاد کوي:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (١١)

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ (١٢)[سُورَةُ الحُجرَات : ١٢]

ژباړه: اې مؤمنانو! نه دي له تاسو نارينه پر نورو نارينه ؤ ملنډي وهي، کېدی شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. او نه دي ښځې په نورو ښځو ملنډي وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. پخپلو منځو کې يو د بل عيب مه لټوئ، او مه يو بل په بدو نومونو سره يادوئ. له ايمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پيدا کول ډېره بده خبره ده. کوم کسان چې دغه کار پرېنږدي (توبه ونه باسي)، هم هغوی ظالمان دي.

اې مؤمنانو، له ډېر ګومان کولو څخه ډډه وکړئ، چې ځيني ګومانونه ګناه وي. د چا پټ عيبونه مه لټوئ او ستاسې څخه دي څوك د چا غيبت نه کوي. ايا په تاسې کې داسې څوك شته چې د خپل مړه ورور غوښې خوړل خوښ کړي؟ ګورئ تاسې پخپله ده دې څخه کرکه کوئ. د الله څخه ووېرېږئ. الله ډېر ښه توبه قبوونکی او خورا مهربان دی.

اخلاقو ته که د نبوي صورت او سيرت په هنداره کې وکتل شي، د اخلاقو د جوړښت او تحسين په هکله زيات احاديث رانقل شوي او امت ته امر شوی تر څو د ښو اخلاقو په مټ دنيوي او اخروي نيکمرغي خپله کړي.

رسول الله ﷺ د حسنه اخلاقو داسې موبه وه چې الله {تعالى} ورته ستاينه کې داسې فرمايي:وانک لعلى خلق عظيم.

يو أعرابي و حضرت علي کرم الله وجهه ته وويل چې د رسول ﷺ أخلاق أو کردار راته بيان کړه آو راته ويې شميره.

حضرت علي کرم الله وجهه ورته وويس چې ته شميرل پيژنې؟ هغه ورته وويل هو، حضرت علي الله رضي الله عنه ورته وويل نو ته ماته د دنيې متاع أو منفعتونه ر وشميره، هغه ورته وويل چې دا نه شميرل کيږي، حضرت علي کرم الله وجهه ورته وويل چې ته د هغه خه د شميرلو څخه عاجزه سوي چې الله رب لعزت ورته لږ ويلي (قل متاع الدنيا قيس) د دنيا متاع لږ ده، أو زما څخه د هغه شي د شميرلو غوښتنه کوې چې الله جل جلاله ورته عظيم ويلى (وانک لعلى خلق عظيم) په تحقيق سره ته د لويو اخلاقو څښتن يې

هو: أخلاق د رسول الله ﷺ په اند او شريعت کې تر دې حده اهميت لري چې رسول الله ﷺ د خپل بعثت عمده لامل اخلاقي جوړښت ښيي او وايي: ثمابعثت لاتمم مكارم الاخلاق. زه د دې لپاره د پيغمبر په توګه راليږل شوی يم تر څو ښه اخلاق پوره کړم.

همدارنګه امت ته لارښوونه کوي چې ستاسو د دنيا او اخرت کاميابي د ښو اخلاقو په انتخاب او تعميل کې ده.

له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه په مؤمنو کې کوم مؤمن بهتر دی ، نبي ﷺ ورته وويل: (احسنهم اخلاقا) هغه کس چې ښه اخلاق ولري. رسول الله ﷺ په دې اړه زياتوي: (ان أحبكم الي واقربكم مني مجلسا يوم القيامة أحاسنكم أخلاقا).دقيامت په ورځ په تسوکې ماته زيات محبوب اوډيرنژدې په مجلس کې هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري. همدارنګه فرمايي : مَامِن شَيءٍ أَثقَلُ فِي مِيزَانِ العَبدِ المُؤمِنِ يَومَ القِيَامَه مِن حُسنِ الخُلُقِ وَإِنَّ اللهَ يُبغِضُ لفَاحِشَ البَذِي (ترمذی).د قيامت په ورځ به د مؤمن بنده لپاره بل هيڅ يوعمل بعير له ښواخلاقو نه زيات وزندار نه وي الله تعالى بيهوده خبرې کونکی اوسی حياء خبرې کونکی بد کني .

اخلاق لکه ډېوه د دنيا څلور کونجه کې د هر دود او قوم و ړه او زاړه ورته ضرورت لري او ټول يې پر کمال او جمال يوه خوله دي ، اخلاق د ټولنې وجود کې د روح خای لري، بې اخلاقو ټولنه بې ژونده ټولنه وي.

مجاهد او داعي ته غواړي مبارزه يې رنګينه او مثمره شي بايد لومړی اخلاق له ځان او کورنۍ نه پيل کړي تر څو نور يې د مخنيوي پر خای لاس نيوی وکوي. ثابته خبره ده څوک چې د أخلاقو له ثمرې او سرمايې نه برخه ونه لري هغه د خلقو له مينځ او ټولنه نه خالي ځولۍ وزي.

اخلاق غوره دعوت کوونکي دي:

لکه څنګه چې فزيکي جوړښت او ظاهري شکلا کولای شي د مقابل لوري ليمې او نظر راجلب او پر ځان ر ټم کړي، همدارنګه نېک اخلاق کولای شي چې پر نظرونو سربيره د خلقو زړونه هم د ځان خواته جلب او له ځان نه چاړيږ کړي.

اخلاق لکه خوږه خوشبو کولای شي چې په پته خوله دعوت وکوي او ځان سره د يو شخص يا يو نظام پيغام تر نورو نه يوازې دا چې ولږدوي بلکې د هغوی د زړهٔ دنيه ته خپل رنګ ورکوي او هغوی د خپل مسير او ادعا متلو ته جوړوي.

اخلاقي ځواک زړونه او ښارونه غبرګ فتح کوي:

د يوې ډلې يا يوه هيواد نظمي څوک که هرڅومره پرېمان وسائل او پرسونل ولري خو چې اخلاقي خواک ونه لري هغوی به په سترو مصرفو، تلفاتو او ډېرو سترو وکولای شي چې ځينې سيمې تر خپله ولکه لاندې راولي، دا هم يقيني ده چې هلته هغوی خپل ځان او فکر نشي مطرح کولای ، چې

څومره ژر وي بيرته به هغه لاسته راوړنې چې په درانه قيمت يې تر لاسه کړې، له لاسه ورکوي.

البته: هغه ټولنه يا فکر چې په اخلاقي برخه کې پر ځان متکي او بدايه وي هغوی بې له کومو مصارفو و تلفاتو کولای شي چې پر پراخو زړونو او دولتونو خپل فکر نقش کړي او د تل لپاره هلته ميشت او واکمن شي.

د اخلاقو ارزښت او زموږ مسؤليت:

اخلاق د يوه خوشحاله مستقبل ضمانت کوي، خلاق هغه ستره معنوي او روحي سرمايه ده چې نه د غلا او نه د ورکې له خطر سره مخ کيږي، نه په زيات مصرف او نه د زيات وخت په تېرولو سره ختميږي بلکې لا پوره کيږي او زياتيږي. اخلاق داسې هم نه دي چې انسان يې په لاس ته راوړلو کې زياتې ستړيا او درد ته اړکيږي بلکې تر هر څه وړيا او اسانه تر لاسه کيږي ، له عبدالله بن عباس رَضِيَ الله عنهُ نه چا وپوښتل ښه اخلاق څه دي؟ هغه مبارک يې ځواب کې زياته کړه: (حُسنُ الخُلُقِ أَمْرٌ هَيِّنٌ وَجهٌ بَشوشٌ وكلامٌ لَيِّن) اخلاق يوه اسانه لاره اخلاق د خندان مخ او نرمې وينا نوم دی.

حسن بصري (رحمه الله) بيا اخلاق داسې راپېژني : د تندی ورين ساتلو، سخا او د ضرر نه رسولو ته ښه اخلاق ويل کيږي.

بناء: موږ لکه څنګه چې د ځان و اولاد لپاره د دنيوي ګټې او ښې جامې په لټه کې يو همدارنګه زموږ دنده جوړيږي چې د ځان او نوي نسل لپاره دنيوي او اخروي ګټې ولټوو، هغوی ته د جنت نېغه لاره په ګوته کړو او د شيطان او کفري دنيا له پټو دسيسو او جالونو نه يې وژغورو.

په روان دور کې د نړۍ په هره نقطه کې چيرته چې مؤمن اولسونه ژوند کوي د هغوی ملي او معنوي شتمنۍ د غرب او کافرې نړۍ د کاري غشو هدف ګرځېدلې،غرب لګيا دی چې په هر څومره درانه قيمت او زيات وخت کېدلای شي د مسلمانانو مادي او معنوي هستۍ له مينځه وړي.

غرب له بې سرحده، بيتې و درنې عسکري جګړې سره جوړه ستره فکري او اخلاقي جګړه هم پر مخ وړي او دې برخه کې بې سلګونه شيطاني رسنۍ او زيات بې ضميره د انسان کالبوت کې پټ نسي- شيطانان پر کار ګومارلي.

تېر ۲۰۱۸ کال د نومبر مياشته کې مې د بي بي سي برطانوي راډيو سهارنۍ پښتو خپرونه کې دا خبره تر غوږ شوه: (چې افغانستان کې دا مهال تر دوه سوه زياتې تلويزيوني شبکې فعاليت کوي). دا خو هغه رسنۍ دي چې دوی يې مني، هغه دعوتي شبکې او حربې چې دوی يې له غير مستقمې لارې مخ ته وړي د هغوی د کره شمېر او دندې په اړه خو څوک معلومات نه لري.

غرب دې نتيجې ته رسېدلی: تر څو چې دلته ځوان نسل له نبوي سيرت نه رنګ اخلي تر هغه به د دوی د شيطاني مکر منتر کار نه کوي او د دوی څټې به زموږ توري څټې، نو ځکه يې اوس د ځوان نسل اخلاقي فساد او فکري ارتداد ته کار ويلی ، شپه ورځ يې يوه کړې ، له موږ څخه زموږ اخلاقي او ايماني جزبې توږي او پر ځای يې خپل خود ساخته طاغوتي فکر دودوي.

د فتنو په دې دور او د فکري يرغل په دې زهرجنه فضا کې که خدای مکړه موږ په فکري او اخلاقي برخه کې غفلت کوو نو دابه زموږ د ځان وژنې په معنی وي ، بايد هر داعي او مبارز تر هر څه وړاندې اخلاقي او فکري تنوير ته اولويت ورکړي.

اللهم أحفظنا من النفاق والشقاق وسوء الأخلاق

د هندو مندر جوړوي
خو د مسلمان مسجد نړوي...!!

لیکنه: موسی فرهاد

داکار د هندوانو په خپل پلرني ټاټوني هندوستان کې نه کیږي، چیري چې قاطع اکثریت هندو ګروهمن اوسي؛ بلکي دا په افغانستان غوندي مسلمان هیواد کې ترسره کیږي، چیري چې د نفوس ۹۹٪ سلنه وګړي مسلمانان دي.

خبر دی چې، کابل کې د ډېرسري حکومت د مالیې وزارت، د هندو او سیک لږکیو د معبدونو د بیارغونې لپاره پنځوس میلیونه افغانۍ ځانګړې کړې دي.

ویل کیږي چې دغه مندرونه زیاتره په کابل، غزني، خوست، پکتیا او ننګرهار کې دي. په کومو سیمو کې چې د مسلمانانو د بې شمېره مساجدو له جملې نه لږ تر لږه په میاشت کې یو دانه جومات او یا مدرسه د کابل د ځواکونو او د هغوی د بهرنیو بادارانو په بمبارونو او شپنیو چاپو کې له خاورو سره خاوري کیږي.

د دغه مسجد او مدرسې ګناه ظاهراً دوه شیان ښودل کیږي، یو دا چې په تېروتنه داکارونه ترسره کیږي، که څه هم کلونه دوام کوي، او دویم دا چې احتمالاً کوم مجاهد طالب به ورکي لمونځ کړی او یا به یې شپه ورکي تېره کړي وي، او یا به یې دیني سبق پکښې ویلي وي.

زما مطلب دا نه دی چې ولې د لږکیو د عبادتځایونو د ترمیم یا له سره جوړښت لپاره بودیجه بیلیږي؟ هغوی هم په دې خاوره کې مستأمینین یا اهل الذمه بلل کیږي چې په اسلامي ټولنه کې له خپلو ځانګړنو حقوقو څخه اسلام برخمن کړي.

مګر هدف دا دی چې د کابل ګوډاګۍ اداره چې له یوې خوا یې د بې ګناه افغانانو په وینو د ځان خړوبول ورځنۍ مشغله ګرځولې؛ له بلې خوا یې د دې ملت په دیني ارزښتونو هم داسې ملنډې شروع کړي چې د اسلام له دین سره د هغوی دښمني له ورایه څرګندوي.

د یوې محتاطې احصائیې له مخې په تېر ۲۰۱۹م کال کې نژدې (۱۰۲) جوماتونه په بمونو انفجار یا بمبارد شوي دي او ۱۶ نور یې داسې تخریب کړي چې فقط دروازې یې ورته په بمونو الووزولې دي. ۱۸ ښوونځي، ۲۰ روغتیایي کلینیکونه، ۱۱ دیني مدرسې، او (۱۶۵۰) د عامو خلکو کورونه ویجاړ کړي. او داسې په سلګونو نور عام المنفعه اماکن یې له منځه وړي دي.

د تېري جنورۍ په میاشت کې یې نژدې ۶ جوماتونه بمبارد کړي، چې تصویرونه یې پر خواله رسنیو هرچا ولیدل. د میدان وردګ، چک ولسوالۍ په خوات درې کې یو مسجد، د ننګرهار، غني خیلو په مارکو کې یو جومات، د کندوز په خان آباد کې یو جومات، د هرات د چیشت ولسوالۍ د دره تخت په سیمه کې یو جومات، د هلمند، سنګین د بخشک په منطقه کې په دې سې توپ یو جومات او په لغمان کې یې یو مسجد منفجر کړ. دا خو فقط د تېري یوې میاشتې خبره ده.

تېر کال یوازې په هغه ډې فروري مـ ـ ـ ـ ـ کې بهرنیو اشغالګرو د کورنیو لاسپوڅو په ملي د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالي د بدرآب په سیمه کې د حمیدیه په نوم یوې لویې تاریخي دیني مدرسې ته ،ور واچـاوه، داسـي یـې وسـوځوله چـې حتـى د قرآنکریم نسخې او ګڼ شمیر دیني کتابونه یې هم پکښې لولپه کړل.

تر دې ځو ورځې وړاندې یې د غزني ولایت دهیک ولسوالي ټسن سیمه کې همدې ګډو عسکرو یو لـوی مسجد په بمونـو والـوزاوه. دا راز د میـدان وردګ جلریز ولسوالي په زیـولات سیمه کې یې د کرهنې یا زراعت یوه دیره ښایسته لیسه داسي بمبار کړه چې نږدې له خاورو سره یې حاوري کړه

ترهغـه یـوه شـپه وړانـدي یـې د فـراه ولایـت بالابلوک ولسوالي په تردنـک سیمه کې د ماشـومانو یوه دیني مدرسه او ابتدائیه ښـونځی چې د ابوحنیفـه په مدرسه او ښونځي سره یې شـهرت درلـود؛ همغـه شان بمبـار کړه، لکه د جلریز لیسه.

دوی که څه هـم ظـاهراً دا کارونـه په دې بهانـه کوي چې ګویا دلته محاهدین اوسي، خـو لـه بمباره وروسته تراوسه هم په دې نه دي توانیدلی چې میډیا ته د هغه چا تصـویر وښـیي چې دوی یـه ننـه کـړی وي

هیـوادوال نـه پـوهیږي چـې لـه دې نـه د کـابـل حکومت مقصد څه دی چې دیني مدارس او مساجد یې هدف ګرځولي.؟

اشـغالګر، د هغـوی کوډاګیـان او د دوی اړونـد رسنیو خو همیشه دا د ځان لپـاره یـو تبلیغـاتي شـعار ګرځولی چې دوی دلته د خلکو د تعلیم، صـحت او بیا آبادۍ لپاره راغلي دي. د چا لـه دیني ارزښـتونو سره یې سروکار نشته.

او طالبـانو پسـي همیشـه دروغ وایـي چـې د تعلیم، ترقي، ارزښـتونو او آبـادۍ دښـمنان دي، مګر په عمل کې خو له ورایه څرګنـدیږي چې د اکثـر فقـط د کابـل حکومـت د خپلـو بهرنیـو آقایـانو په ملاتـړ ترسـره کـوي. ځکـه دا هرځـه ثابـت شـوي، چـې محاهـدین خـو مدرسـې، مکاتـب، کلنیکونـه او بازارونه آبادوي مګر اشـغالګر او د هغـوی لاسپوڅي یې ورانوي.

د کاپیسا مدرسه یې له قرآنکریم سره یوځای په اورکې لولپه کړه، د کندوز مدرسـه یـې لـه ۱۵۰ ماشومانو سره لـوبې لـوبې کـړه، د جلریـز لیسـه یـې هواره کړه، د فراه ابتدائیه ښوونځی یې بمبار کـړه،، په سنګونو نـوري دا ډول مدرسې او مسـاجد یـې په بمونو رنګ کړي او له منځه وړي دي.

خو دلته بیا اعلان کـوي چـې د هنـدو او سـیک لږکیـو لپـاره یـې پـه سـرونې بودیجـه کـې ۵۰میلیونـه افغانۍ بیلي کړي، ترڅو هغوی خپل معابد وربنـدي ورغوي.

له دې نه دره ټکي له ورایه بریښي، یـو دا چې د کابل د موجوده چارواکو هغه پته څیره ښه بربنډیږي چې دوی له اسلام سره آساسـي عقـده لـري، غـواړي چې دیني مراکز، مساجد او نور اسلامي ارزښتونه په سیستماټیک ډول په یوه او بله بهانـه لـه منځـه یوسـي او د طالب د پټن ځای په نامه یې تخریـب کړي.

دویم دا چې د کابل کـوډاګي اداره څرنګه چـې هر کال د فساد په برخه کې نړیوال ریکارډ جـوړوي: د ارګ د چـارواکو همـدا ګرنـي دي چـې پـه مختلفـو نومونو بودیجه تخصیصـوي خـو وروسـته یـې بیرتـه خپلو منځو کې د فساد قرباني کوي.

زه ګمان کوم چې د هندو او سیک د معبد په نوم دا بودیجه به بیا هم د ارګ د چارواکو د فساد په اړتیا کې مصرفیږي. هندو او سیک وطنوال دې حیل کار کوي.

پای

خبر او نظر...!!

م ف.....



۱ - نیوزویک: افغانستان کې یو تن امریکایي تښتول شوی

– تبصره: ولې؟ دوی ته نه و ویل شوي: «چې بیا رو نه شي»

۲ - دیپلومات ورځپانه: په دا شل کاله کې اروپا په افغانستان کې څه ترلاسه کړل؟

= تبصره: ډېرځه: بدنامي، شکست، د سروسال زیان، د بې ګناه افغانانو وژل. نور هیڅ.

۳ - سپینه مانۍ: افغانستان کې د تریاکو تولید ډېر شوی.

= تبصره: ورسره ولیکئ، اتلس کلني لاس ته راوړني.

٤ - عبدالله عبدالله: د ټاکنو پایلې باید شفقي اعلان شي.

= تبصره: د ظالم بچیه! له خندا دې مړه کړو، «لا بې شفافي بولي»

٥ - حبیب مجاهد: د غربي رسنیو په نزد خبره مهم دي که انسانان؟

= تبصره: خبره.

٦ - د خوست والي: امریکایي وګړي له کاله تښتول شوی.

– تبصره: والي خان به نه ښوروي، کابل وي که خوست، تا وسنا بابا عني تښتولی، ستاسو هغه نیکه به یې لا پیدا کوي.

۷ - عبدالله عبدالله: د طالبانو او امریکا توافق به بین لافغاني مذاکراتو ته لار هواره کړي.

= تبصره: بلکل، پرځای خبره ده، په دغه موقف کې دې پر غني بلا وګرځه.

۸ - اشرف غني: ایران زبان دري ازما دزدي کرد.

– تبصره: شما زبان را چه کار داري، شما خو (خرا) را دوست داري. لري دې ډمخي.

۹ - خبر: د هرات او هلمند د عملیاتي او ځانګړې قطعو قوماندانان وژل شوي.

– تبصره: ته صبر نور په هم ډېر ووژل شي، دا د ټرمپ ناصالي اولاده.

۱۰ - ویډیو، د ارزګان ولي: ولس اتیا سلنه حقوقي قضیې طالبانو ته وروري.

= تبصره: اتیا نه، سل سلنه. والی سائب دروغ به نه وایی.

۱۱ - رسنۍ: د کابل کندهار پر لویه لاره ترافیکي پېښې مرګ ژوبله اړولې.

= تبصره: د افسان وژني کار ډېورانو پر غاړه اخیستی، نور نو امریکایان دلته څه کوي، ولاړ دي شي.

۱۲ - قدردانی عبدالله از همکاری های ایران در دوره جهاد و مقاومت.

= تبصره: اتهام دردي اشرفغني علیه ایران. در رابطه «زبان دري».

۱۳ - رسنۍ: کابل کې د پاکستاني طالبانو دوه قومنده نان په مرموز دول وژل شوي.

= تبصره: د ارګمي خادیانو ته چې پیسې په لاس ورځي د خپلې مور پرخرڅولو او وژلو هم صرفه نه کوي.

۱۴ - الاماره: په ۲۰۱۹م کال کې پرافغانانو څه تېر شول؟

= تبصره: د تریوال او کورني سوله ساتي څواک لخوا ۷٤۲۳ بمونه

۱۵ - ارګ: د هندوانو او سیکنو د معدونو د بیا رغوني لپاره ۵۰میلیونه افغاني بودیجه تخصیص شوه.

– تبصره: د عم عني شي، جوماتونه بمباروي، مندرونه رغوي.

۱٦ - د بشري حقونو کمیسیون: د هوایي بریدونو له امله ملکي مرګ ژوبله اوج ته رسېدلې.

= تبصره. نه له ناسو چې ایله مو له افغان بشر سره خواخوږي وکړه. الله دې نور دا پرغلګر او د هغوی اجرتي قاتلان تباه کړي.

پای .....!

معامله قرن

حبیبی سمنگانی

یا معامله ترامپ – نتانیاهو؟!

معامله قرن (Deal of the century) و یا طرح تازه و یکطرفه ترامپ در قبال معضل فلسطین – اسرائیل هرگز تعجب آور نیست. دیدگاه ترامپ در مورد یهودیان همواره واضح بوده، و او کسی است که شیفتگی و دلباختگی خود به یهودیان را هیچگاه پنهان نداشته است. چنانچه او در جریان مبارزات انتخاباتی ۲۰۱۶ به جمعه یهود امریکا گفته بود : «ازین چه دلیل بزرگ تری برای محبت من با اسراییل و یهود می باشد که نواسه هایم یهودی هستند، دختر نازنین ام یهودی است، دامادم هم یهودی است و شما می دانید که همه خانواده او یهودی است».

فلسطینیان بیاندیشد. در حالی که دختر و داماد یهودی او (ایوانکا ترامپ و جرد کوشنر) مشاوران رسمی کاخ سفید هستند و ایوانکا به «عروس اسرائیل» یاد می شود. آگاهان هر از گاهی از نقش بارز ایوانکا در سیاست های خارجی ترامپ خبر داده اند. گفته می شود که سناریوی معامله قرن را نیز جرد کوشنر، داماد یهودی ترامپ با مقامات اسرائیلی آماده کرده است. از همینست که معامله قرن را در حقیقت معامله ترامپ – نتانیاهو گفته می شود.

هرگاه ترامپ در انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۱۶ به پیروزی رسید، او در پاسخ به پیام

ترامپ کسی است که برای آبادی مجدد یهودیان در نوار غزه، ملیون ها دالر کمک کرده است. پس او چگونه می تواند در مورد پاکساری این منطقه از یهود تصمیم بگیرد و یا به سود دیگر کشوری به نام فلسطین در جغرافیای جهان وجود نخواهد داشت. این باور آنان بی جا نبود، زیرا تشکیل پالیسی و استراتژی ترامپ در قبال خاور میانه به متعصب ترین چهره های یهودی سپرده شده بود.

دونالد ترامپ پس از یازده ماه، روز چهار شنبه ٦ دسمبر ۲۰۱۷ میلادی القدس را، که قبله اول مسلمانان مسجد اقصی در شرق آن موقعیت دارد، پایتخت اسرائیل اعلام کرد. قابل ذکر است که کنگره امریکا در اکتوبر ۱۹۹۵ میلادی، قانونی را تصویب کرد که باید سفارت ایالات متحده امریکا در ظرف چهار سال از تل اویو به القدس (اورشلیم) انتقال داده شود و القدس به حیث پایتخت اسرائیل به رسمیت شناخته شود. از نگاه ترامپ ؛ قانونی را که بیش از دو دهه در طاق نسیان گذاشته شده بود، می خواهد جامه عمل بپوشاند.

ترامپ در دسامبر ۲۰۱۷، کلینتون، جورج بش و اوباما را بردل خواند و گفت : آن ها از ترس مسلمانان این قانون را تطبیق نکردند. به گفته او : من در ظرف شش ماه سفارت امریکا را به القدس انتقال می دهم.

واضح باد که اسرائیل در نتیجه جنگ ۱۹٦۷ میلادی که منجر به شکست عرب ها شد، منطقه شرقی القدس را (که مسجد اقصی نیز دران قرار دارد) غصب کرد. سپس پارلمان اسرائیل در سال ۱۹۸۰، القدس را رسماً بخش اسرائیل اعلان کرد. اما سازمان ملل متحد این فیصله پارلمان اسرائیل را خلاف قوانین بین المللی خواند. سازمان ملل متحد این منطقه را اشغال شده می داند، نه بخش اسرائیل. سازمان ملل در نومبر ۱۹٦۷ قطعنامه ای را به تصویب رسانید که نمی توان بخشی از کشور دیگری را به زور در قلمرو خود درآورد.

فلسطین در سال ۱۹۴۷ میلادی از سوی کمیته ویژهٔ سازمان ملل متحد به دو کشور تقسیم شد. ٥۷٪ خاک این کشور به یهود و ۴۳٪ آن به مسلمانان داده شد (قابل ذکر است که حالا اسرائیل بر ۸٥٪ خاک فلسطین کنترول دارد). بخشی که از سوی سازمان ملل به عنوان خاک اسراییل اعلان شد، منطقه القدس شامل آن نبود و هنوز هم نیست. بر مبنای این تقسیم، باید القدس از سوی سازمان ملل اداره می شد. اما ترامپ در طرح جدید خود که به «معامله قرن» یاد شده است، باز هم اصرار دارد که القدس پایتخت اسرائیل باشد. آیا عجب نیست، منطقه ای که از نگاه سازمان ملل متحد اصلا بخش اسرائیل نیست، باید به حیث پایتخت آن شناخته شود ؟

تهنیتی بنیامین نتانیاهو، نخست وزیر اسرائیل گفت : « امروز من برنده نشده ام، بلکه برادر شما پیروز شده است». از همان روزی که ترامپ پیروز شد، اسرائیلی ها به این باور رسیدند که



دونالد ترامپ، در حالی که بنیامین نتانیاهو او را در کاخ سفید همراهی می کرد، از یکسو فلسطینیان را هشدار می دهد که این را آخرین چانسی برای خود بدانند و از سوی دیگر آن ها را تشویق می کند که فرصت طلایی معامله ۵۰ ملیارد دالری را از دست ندهند. اما او آماده نیست فلسطینیان به جز اسرائیل، با هیچ بخش جهان مرز مستقیم داشته باشند. از همینست یگانه منطقه ای را که فلسطین را با جهانیان وصل کند، به اسرائیل می دهد. او در نظر دارد با دادن «دره اُردن» به اسرائیل، فلسطینیان را از چهار اطراف محاصره کند.

نکته مهم دیگر طرح ترامپ اینست که نه تنها باید تنظیم های مسلح حماس و جهاد الاسلامی لغو شوند، بلکه دولت فلسطین هیچگونه ارتشی نباید داشته باشد. در حالی که بر اساس راپور انستیتو بین المللی پژوهش های صلح استکهلم، بودجه نظامی اسرائیل در سال ۲۰۱۸ میلادی ۱۵,۹ ملیارد دالر بوده، و اسرائیل هشتمین بزرگ ترین فروشنده سلاح در سطح جهان است. امریکا با کدام منطقی به اسرائیل اجازه می دهد که نیروی بزرگ نظامی در جهان باشد، اما به کشور رقیب و همجوار آن اجازه نمی دهد که ارتشی داشته باشد ؟ بلکه اسرائیل می تواند در داخل دولت فلسطین بر علیه «تروریسم» عملیات انجام دهد.

همچنان بر مبنای این طرح، مهاجران فلسطینی اجازه بازگشت به مناطق آبایی شان را، که در کنترول اسرائیل داده می شود، ندارند. آن ها تنها می توانند به کشور احتمالی فلسطین، که ۱۵٪ تمام خاک فلسطین است، برگردند. قابل ذکر است که حدود هفتصد هزار فلسطینی در نتیجه جنگ های ۱۹۴۸ و ۱۹۶۷ به کشور های اردن، سوریه و لبنان هجرت کردند. از نگاه قوانین بین المللی، کسانی که در حالت جنگ کشور خود را ترک می کنند، حق دارند که به منطقه خود برگردند. اما این حق فلسطینیان نیز سلب شده است.

مختصر اینکه یهودیان به همکاری دولت امریکا می خواهند وارد فاز جدید نابودی فلسطین از نقشه خاور میانه و جهان شوند. هر کسی می داند که این طرح پذیرفتنی و قابل تطبیق نیست. اما دونالد ترامپ و تیم یهود پرور او شاید می خواهند با استفاده از پراکندگی و چند پارچگی مسلمانان جهان، قصه فلسطین را به زودی به سود خود تمام کنند. اتحادیه اروپا و بریتانیا نیز از طرح معامله قرن، استقبال کرده اند. از میان کشورهای اسلامی، امارات متحده عربی، بحرین و عمان نیز با اعزام سفرای خود

به حضور ترامپ و نتانیاهو، موافقت خود را با این طرح اعلان کرد.

بالمقابل، هر چند بیشتر کشورهای اسلامی واکنش تندی در برابر طرح خصمانه ترامپ نشان دادند، اما هنوز هم چندان امیدی برده نمی شود که ملت خفته و چند پارچه اسلامی، گام جدی و عملی در حمایت از مردم مظلوم فلسطین و مسجد اشغال شده اقصی بردارند. کشورهای مهم اسلامی هنوز آماده نیستند برای مقابله با طرح فاشیستی و حذفی یهود از اختلافات داخلی خود دست بردار شوند. بی بی سی (به تاریخ ۲ فبروری ۲۰۲۰) به نقل از وزارت خارجه ایران خبر داده است که : دولت عربستان هنوز برای شرکت هیات ایرانی در نشست سازمان همکاری اسلامی ویزه صادر نکرده است.

رجب اردوگان، رئیس جمهور ترکیه گفته است : «معامله قرن؛ معامله قرن چیست ؟ این پروژه اشغال است. من نقشه ای را در مجمع عمومی سازمان ملل نشان دادم، فلسطین در سال ۱۹۴۷ چه بود ؟ و اسرائیل دران وقت چه بود ؟ اگر شما فلسطین آن وقت را ببینید و به فلسطین کنونی نگاه کنید، کاملا تغییر داده شده است. با اوج بی شرمی و رسوایی به دنیا می گویند که ما حقوق تازه ای به فلسطین می دهیم. حالا این دروغ را بگذارید، شما چه کسانی را فریب می دهید ؟ تمام زندگی درین دروغ گذشت ؟ یکطرف شما ترامپ را می بینید که یک کسی در پهلویش ایستاده است، او به کسانی سخنرانی می کند که با کلاه های یهودی پیش روی او ایستاده اند، او می خواهد آن ها برایش کف بزنند. اما با این کف زدن ها نمی توان سرنوشت جهان را تغییر داد. شما هیچگاه با سرنوشت فلسطین بازی نمی توانید. من در مورد فلسطین و القدس گفته ام و همواره می گویم، که القدس خط قرمز برای ماست. موقف ترکان در برابر فلسطین همانست که مرحوم سلطان عبدالحمید گفته بود ؛ القدس برای فروش نیست».

اما واقعیت اینست که مسلمانان فرصت های زیادی را هدر داده اند، حالا تنها گفتار بسنده نیست، بلکه با کردار و رفتار باید ثابت کرد که معضل فلسطین آنقدر ساده نیست، که ترامپ و نتانیاهو فکر می کنند. وگرنه، هویدا است که امریکا و یهود تنها به فلسطین و القدس قناعت نخواهند کرد، بلکه خاکم بدهن، مسلمانان یکی پس از دیگر بلاد اسلامی را از دست خواهند داد و در خاک خود آواره و درمانده خواهند گشت.

امارت اسلامی، که مشغول مبارزه برای آزادی اشغال شده خود است، درد برادران و خواهران در به در فلسطینی خود را بهتر درک می کند. امارت اسلامی در اعلامیه خود، طرح ترامپ را ظالمانه خوانده و تجاوز آشکارا بر حقوق فلسطینیان دانسته است. نیز تصریح نموده است که : بیت المقدس قبله اول امت اسلامی و فلسطین تنها ملکیت مردم آن کشور می باشد، که هیچگونه قابل معامله نیست. همچنان امارت اسلامی از کشورهای اسلامی و کنفرانس اسلامی خواسته است که مکلفیت خود را درین موضوع حساس درک نموده و برای جلوگیری ازین معامله ظالمانه مشترکاً دست به کار شوند.

په هند کې

دمسلمانانو دارتداد لپاره منظم تحریک

حسن مومند

متعصبو هندوانو په هند کې د(کورته ستنېدو) په نوم دخپل دین نه دمسلمانانو د اړولو په موخه په ډېر زور شور یو نوی تحریک پیل کړیدی .

دوئ وایې دهند میشتو مسلمانانو نیکونه هندوان وو ؛ پر هند د مسلمانانو دحملونه پس په مختلفو وختونو کې دوئ د هندو ایزم نه اسلام ته را اړول شـــــویدي ؛ ددوئ اکثریت نسلاً هندوان دي نو دوئ ټول باید بېرته هندو ایزم ته راواړول شي .

دایکســـپریس نیـــوز سروس په نوم هندي جریدې لیکلي دي چې دمودي دادارې له لورې دتابعیت دنوې لایحې درامنخته کېدو نه پس دهند په متعصبوهندوانو کې دافکر خپور شو چې ګینې دتابعیت په اړه دمسلمانانو ددې ستونزمن حالت او مجبوریت نه ښه ګټه پورته کېدای او د تابعیت د ټمې ورکولو له لارې مسلمانان په اسانه هندوان کېدای شي .

دپلازمېنې ډیلي په شمول دهند په زیاترو ښارونو او اطرافو کې دمتعصبو هندوانو تنظیمونو هندوایزم ته دمسلمانانو راړولو په موخه مسلمانانوته له ګوابنېونو ډک خطونه لېږدول شویدي ؛ یواځې کرناټک ایالت کې علماءو او دجوماتونو مشرانو اومتولیانوته ۱۰۰ دا ډول خطونه لېږدول شویدي چې دوئ دا خطونه رسنیو ته هم وښودل .

د(کور ته ستنېدو) ددې نوې نارې ترعنوان لاندې مسلمانانو ته په لېږدول شویو دې خطونو کې پر اسلام دېاتې کېدو په صورت کې دهند نه دویستلو ، دکورونو سوځولو او دتابعیت نه دېې برخې کولو اوداسې نور ډېر ګوابنونه شویدي اوترڅنګ یې دهندو توب دقبلولو په صورت کې ډېرې ټمې هم ورکړل شویدي .

دپرنټس په نوم دهند بلې جریدې لیکلي دي چې په هند کې دتابعیت د نوې لایحې پر ضد دمسلمانانو داحتجاجونو په مقابل کې د آر.ایس.ایس ؛

بي. جي.پي او وي.ايچ.پي په نوم دهند دمشهورو ګوندونو قيادتونو په شريکه داسلام نه دمسلمانانو د جبري اړولو لپاره د (کورته ستنېدو) په نوم ګډ پلان جوړ کړيدی چې دا کار په ټول هند کې دمسلمانانو لپاره دسترو اندېښنو لامل ګرځېدلی دی .

فري پريس جرنل انډيا نومي جريدې کې پدې اړه خپور شوي راپورکې راغلي دي چې دهندوانو دسخت دريځه تنظيمونو له لورې دجوماتونو امامانو ته په لېګل شويو خطونو کې راغلي دی چې که تاسې دجوماتونو امامان داسلام پرېښودو ته چمتو شوئ ستاسې مرسته به وکړای شي او په مندرونوبه دجوماتونو دبدلولو کار اسان شي .

دکرنا ټک اوسېدونکی نامتوهندي جورنالست اسيتا شري وايې چې جوماتونو ته استول شوي خطونه ډېر دګواښونو نه ډک دي ؛ پکې راغلي دي چې دجوماتونو امامان اوبا اثره مشران بايد عام مسلمانان دتابعيت نوې لايحې ته چمتو کړي او ورته ووايې چې د(کورته ستنېدو) نوي رامخي ته شوي پروګرام نه په استفادې هندوايزم قبول کړي ؛ که مسلمانانو همداسې وکړل نو دتابعيت دنوې لايحې دمشکلاتونه به خلاص شي ؛دتابعيت کارتونه به په اسانی ترلاسه کړي ؛ دتابعيت ترلاسه کولو لپاره به ترې دهيڅ سند اوثبوت غوښتنه نه کېږي ؛په دولتي ادارو کې به ورته په اسانه وظيفې ورکړل شي او په ټول هند کې به ورسره دخلکو له لورې ښه سلوک کېږي .

آشيتا شري وړاندې ليکي چې مسلمانانو ته دګواښونوتر څنګ په مندرونو دجوماتونو دبدلولو ارادو شکاره کولو به مسلمانانو کې ډېره وېره اوتشويش خپور کړيدی .

د وجی کرناټکا نومي اخبار په راپور کې راغلي دي چې دسخت دريځو تنظيمونو له لورې دسماش کهيراريډي اوآنندسنګ په نوم دپارلمان دوه غړوته هم خطونه استول شويدي او ورنه غوښتل شويدي چې دکومې حلقې نه ټاکل شوي اوپارلمان ته مو لار موندلې ده په هماغه حلقه کې دخپل نفوذ نه کار واخلئ اوداسلام نه دخپلې حلقې دمسلمانانو په اړولو کې زموږ سره مرسته وکړئ !

د وينګ جاګرن پوسټ په نوم دهند يوې بلې جريدې ليکلي دي چې په ډيلي ، اترپرديش ،مدهياپرديش ، راجستان ، هريانه ، بهار ، اندراپرديش ،کرناټک ، کيراله ، بنګال اوشمال شرقي ايالتونو کې دهندوانودمتعصبو سياسي ګوندونوله لورې مسلمانوته خطونه استول کېږي چې ورته پکې داسلام پرېښودلو اوهندو ايزم قبلولوترغيب او مشورې ورکول کېږي او داسلام، نه پرېښودلو په صورت کې دسختو مشکلاتوسره دمخامخ کېدو ګواښونه ورته کېږي .

پدې خطونو کې راغلي دي چې دهندمسلمانان ټول په اصل کې هندوان وو چې په مختلفو وختونوکې مسلمانان شويدي نو دوئ ټول بايد بېرته دخپل پلار نيکه دين ته راواړول شي ؛ که دوئ دخپلو نيکونو دين ته راشي نو په ټولنې کې به دلوړ مقام نه برحمن اوډېرې مالي ګټې به ترلاسه کړي .

هندوستان ټايمز ليکي چې داسلام نه د مسلمانانو داړولو په موخه دشمالي هند په ټولو ايالتونو کې دسخت دريځو هندوانو له لورې پر لويو سرکونو ډېرې سترې لوحې نصب کړای شويدي ؛ پدې لوحود(کورته راستنېدل) تر عنوان لاندې راغلي دي چې مسلمان به دهندو کېدلو نه پس

دتابعیت دنوې لایحې په اړه دهر ډول وېرې نه په امن کې وي خکه چې پدې لایحې کې دهندوانو حقوقونه پوره پاملرنه شویده .

داد متعصبو هندوانو هڅې او خوبونه دي ؛ په دادومره لوی هندکې شاید دګوتو په شمېرځودضعیفې عقیدې خلک دهندوانو ترفشارونو لاندې راغلي او اسلام یې پریښی وې خودخوښی خای دی چې په ټوله کې په ټول هندکې دمتعصبو هندوانو دا شوم پلان ناکام دی ؛ مسلمانانو چې دتابعیت دنوې لایحې پر ضد کوم لاریونونه پیل کړیدي هغه لا هم نښه په قوت روان دي او دهندوانو دې نویو هڅو وربانديې هیڅ منفي اغېزې ندي کړی .

خو له دې انکار نه شي کېدای چې په هند کې دمسلمانانو پرضد دهندوانو تعصب کې او س له بل هر وخت نه ډېروالی راغلی دی .

په هند کې دتېروترسره شویو انتخاباتوکمپاینونو ته که وکتل شي نو داسې ښکاري چې دا کمپاینونه نه بلکې ددې هېواد دښتو مسلمانانو لپاره یوه لویه ابتلاء وه ؛ داسې ښکارېده لکه چې دانتخاباتو کمپاین نه بلکې دلته دمښتو مسلمانانوپرضد پیل شوی یو منظم خوځښت وي.

دحاکم ګوند بي.جي.پي مشرانو په په خپلو غونډو او دهندي رسنیوسره په مرکو کې دمسلمانانو پرضد سخې رهرجې او پارونکې خبرې کولې.

هندوان نښه بزدل خوترځنګ یې ډېر زیات شر خوښي هم دي ؛دخپل خان نه پرته یې دهر مذهب او خصوصاً د اسلام سره دښمني ډېره زیاته ده او دپاکستان پرضد یې کرکه او نفرت هم له حده زیات دی نو دحاکم ګوند بي جي پي او نورو متعصبو ګوندونو مشرانو به دمتعصبو هندوانو دهمدې حالت نه په اسنفادې په خپلو جلسو،دانتخاباتي کمپاین په موخه رامنځته شویو لاریونونو او دخلکو سره په خصوصي لېدنو کښو کې په هند کې مېشت مسلمانان دتروریستانو او دپاکستان دلاسپوڅو په ډول نومونو یادول؛ترڅنګ به یې داهم ویل چې له دې انتخاباتو نه پس به دهند دټولو مسلمانانو سرونه ورکل کړو او ټول به دخیل دین پرېښودلو او دهندوانو دین قبلولو ته اړ کړو.

په لازیاتو احساساتو کې دهندوانو دراوستلو لپاره به ددې ګوندونو مشرانو دبابري مسجد پر شهیدولو دخوښۍ اظهار او افتخار هم کاوه او دبابري مسجد پرځای درام مندر جوړولو وعدې به یې هم کولې.

دبي.جي.پي یو مشر ،،رنجیت بهادر شري واستو،، دانتخاباتي کمپاین یو لاریون ته په خپلې وینا کې مسلمانان دهېواد او نظام غدارانِ بللي وو او ترځنګ به یې دا هم ویل چې که هندوان دمسلمانانو نسل تباه کول غواړي نو دمودی بي.جي.پي ته دې رایې ورکړی.

هغه په عام محضر کې دمسلمانانو سخت سپکاوی وکړ او ویې ویل چې په راتلونکو انتخاباتو کې له بری وروسته به بي.جي.پي له چین نه دسر کلولو سل زره ماشینونه راوارد کړي ترڅو پرې دمسلمانانو سرونه کل او هندو مذهب قبلولو ته یې اړ کړو او څوک چې بیا مخالفت کوي نو دبوټانو لاندې اچول او په پښو پرې ګرځېدل یې علاج دی.

متعصب هندوان دمسلمانانو سره په دا ډول دښمنۍ دخپل خان اوهېواد سره دښمنې کوي ؛ کـه دهندوانو تعصب دوام وکړي مسلمانان به دجدایې غوښتلو یوقوي تحریک پیل کړي چې هم به دهند حالات زیات خراب شي او هم به هند دتجزیې دلوی ګوانښ سره مخامخ شي .

د هېواد تاريخ مو د تېرو يرغلونو عيني شاهد



محسن پکتين

تاريخ ليکي پر سيمه ايزه کچه پر ۱۸۴۳ زيږديز کال د اوسني کاوندي هېواد سيند ايالت، پر ۱۸۴۹ کال پې پنجاب ايالت او پر ۱۸۵۷ زيږديز کال د هند دهلي يو پر بل پسې انګريزانو ونېول، د اسلامي نړۍ پر کچه پې پر ۱۸۵۱ زيږديز کال نايجيريا، پر ۱۸۸۸ مصر، پر ۱۸۹۸ سودان، پر ۱۹۱۴ عراق او پر ۱۹۱۸ زيږديزکال اردن او فسطين هم ونېول.

يا پر سيمه ايزه او هم نړيواله کچه اسلامي هيوادونه يرغلګرو انګريزانو نېولې، خو پر افغانستان له سيند نېولو دري کاله وروسته پر ۱۸۴۰ زيږديزکال انګريزانو لومړی يرغل راوړ، له هغه ۲۰ کاله وروسته او د مصر له نېولو ۹ کاله وراندې پر ۱۸۸۰ زيږديز پې پرې دوهم يرغل او له هغه ۲۹ کاله او د عراق له نېولو ۴ کاله وروسته پې د اردن او فلسطين نېولو پر (۱۹۱۸ زيږديز) کال درېيم يرغل زمونږ پر ګران افغانستان راوړ، خو يو ځل هم و نه توانېدل چې وپې نيسي، له درېيم يرغل ۳۸ کاله وروسته څلورم د ۱۹۸۰ زيږديز شوروي يرغل هم مات شو.

د دغه تاريخ په ضمېمه کې دا ځل مونږ بايد وښيو چې پر ۲۰۰۱ زيږديز کال د (الکفر ملة واحدة) تر اطلاق لاندې که پر نړۍ سور (ټود) کافر او که هم سور (منافق او ملحد) کافر و؛ ټولو د يوې ټلوالی او اشر په شکل زمو پر ګران هېواد افغانستان پېنځم ځل يرغل راوړ او بيا پې هم ونه نېوه، نو دلته د انګريزي، شوروي او صليبي ۲ يو جهاني ټلوالو او ائتلافونو پېنځه يرغلونه مات شول خو زمونږ هېواد پې ونه نېو، تېره ۱۹ کلنه جګړه خو د هغه د اشغال د هڅې په توګه په تېر پسې يو ناکام يرغل دی، چې اوس له يرغلګري ټلوالي د وتو لاره ورکه او هغه هم له مونږ غواړي، نو دغه جګړه د هېواد د نېولو په مانا نه ده.

دغه يرغلونه که څه هم د هېواد د ابدي او ازادۍ ۱۱ پر نوم راغلي وو، خو زمونږ هېواد ته پې له دلته او هم ټولو اړخونو نه هېرېدونکي او نه جبرانېدونکي درانه زيانونه واړول، خو داسې هم نه چې يواځې مونږ ته پې زيانونه واړول يا يواځې موخې پې وډايلي بس وتښتېدل او هېڅ زيان پې ونه ليد، بلکې هر يرغل څومره چې له پيله څومره لوړ سنجول شوي وو، هغومره په جګړه کې شکېل زيات شو او ورسره پې د زيان کچه هم د دوی له اټکل لوړه وه.

تر دې چې د درنو ځاني او مالي خسارو سربېره پې نړيوال ائتلافونه دلته له ماتې وروسته بشپړ رنګېږي، انګريزان د برطانيې په مشري دلته له ماتې وروسته يو تش په نوم اتحاد باندې بدل شول چې اوس تازه برطانيه تري وهم وتله، شوروي له ماتې

سره په روسیه بدل شو و صلیبي ائتلاف بیا د ماتې له څرک لګېدو سره سم خو له بشپړي تېښتي مخکې ړنګ شو چې اوس یې سر دلته نښتی او د وتلو لاره ترې ورکه ده.

حقیقت خو دا دی چې د دغو یرغلونو هدف یواځې موږ ته همدغه زیانونه او د هغو په بیه د خپلو موخو ترلاسه کول نه و، بلکې په فکري، عقیدوي، فرهنګي، ښوونیز، سیاسي او اقتصادي ټولو برخو کې زموږ پر ملا ماتول، زموږ خوره خپله مستعمره ګرځول او د خپلو ګټو لپاره دلته په دوامداره توګه پاتې کېدل و چې دا به په رښتیاهم زموږ د هېواد د نېولو په مانا وای، خو د الله تعالی پر نصرت دغه د شیطان څلي ائتلافونه د خپل هدف اسمان ته له رسېدو پرته د ولس د سرښندنو پر ستورو ولګېدل، وسوځېدل او را وغورځېدل.

هر یرغل دلته کورني لاسپوڅي هم لرلي او لري یې چې د هغوی پر ملاتړ، د هغوی د ودې لپاره او د هغوی په تمه تر یو وخته دلته پر جګړه کېوزي، خپل یرغل او دغو لاسپوڅو ورته یواځې همدومره ګټه کړې چې تر یوې مودې دلته د خرپ په جګړه کې ښکېل پاتې شي و بیا د ځاني او مالي زیانونو پر لېدو پښې سپکې کړي.

تېر زیږدیز کال ته پر کتو د صلیبي یرغل په دې۱۹ کلنه جګړه کې په میانه/ اوسط شمېر د۸۰۰۰ او۱۱۰۰۰ ترمنځ بهرنیانو وژل کېدو، تر دې زیات شمېر ژوبلېدو او هغومره په رواني ناروغیو اخته کېدو ټکل کېدای شي، په دې ټوله موده کې او له دې هرڅه سره د دې جګړې موخه نه ده مالومه، لاسته راوړنې نلري او د جګړې حقائق له امریکایي ولسونو او دنیا والو څه چې همدلته له افغانانو او د جګړې په میدان کورنیو او بهرنیو سرتېرو هم پټ ساتل کېږي، بلکې لا دوی د یوې مبهمې او نامالومې انګېزې له مخې جګړه کوي، وژل کېږي او تر مرګه د خپلې جګړې پر انګېزه نه پوهېږي.

اوس چې صلیبي یرغل دلته بشپړه ماتې خوړلې خو لا هم زړه نازړه پاتې دی، د خپلې ماتې او ور اوښتو زیانونو د تلافي او یا لږ تر لږه له دنیا والو او خپلو ولسونو د پټولو خیال یې په مغزو کې ګرځوي، دوی خیال کوي چې له دومره سترو زیانونو وروسته هم خالي لاس او ټیټ سر تېښته به مو ولسونو او دنیاوالو ته مختور او غرور به مو پر ځمکه را پرېباسي، غافل له دې چې دا خو په تش ماتې او ور اوښتو تلفاتو رامنځته شوي دي او له دې زیات به نور نو څه وي؟

که پر یو او بل نوم دلته پاتې کېدل وي لکه اوس د سولې خبرو په نوم او همدې جریان کې، نو له لازیاتي شرمونکې ماتې او درنو تلفاتو پرته خو د څه خیال نه کېږي، تر اوسه هم ماتې، تلفات او نړیوال غرور ماتېدل د همدې پاتې کېدو پایله ده، ځیني سرخېل خو یې لا خپله هم وایي پر افغانستان مو یرغل هلته د دومره ډېر وخت پاتې کېدلو لپاره نه و، که داسې وي نو ښایي چې له یرغل سره دوی پر داسې جګړه کېوتلي چې تمه یې نه وه کړې او د یرغل په پلان کې یې ورته پام شوي هم نه و او ښکاره خبره ده چې اوس که خپلو ولسونو او دنیا ته شرمنده دي او که یې نړیوال وجاهت او برم پښو ته را پرېوتلی لامل یې همدغه له پلان پرته جګړه او په افغانستان کې زیات پاتې کېدل دي.

زه خو وایم که چارواکي او په رأس کې یې د یرغل سرخېل له دنیا والو، ولسونو او سرتېرو د جګړې حقائق پټ کړي، نو دوی چې خپل چارواکي په بله هره برخه، د کاندېداتورۍ و یاهم ټاکل کېدو پر مهال او عادي چارو کې په عام ډول پر دروغو ښه پېژني، دا ۱۹ کاله فوق العاده یې ګټي او بې پایلې جګړه کې څنګه باور پر کوي؟ چارواکي او سرخېلان چې په عادي چارو کې دروغ وایي نو په فوق العاده جګړه کې یې بیا کوم ځانګړي قانون له دروغو منع کړي؟ ولسونه او سرتېري چې یې هلته په دروغو ښه پوهېږي دلته پرې له پوهېدلو ورته کوم مانع دی؟!

حقیقت دا دی چې په فوق العاده جګړه کې چارواکي او سرخېلان دروغ هم فوق العاده وايي، خو لکه په بل هرڅه کې دروغ او په فوق العاده جګړه کې بیا رښتیا وبل چې یو نه ماتېدونکی قانون یا د اساسي لائحې له مخې یو مکلفیت وي و بیا چرواکي عملاً ورته ژمن هم وي، ساده ولسونه او غولېدلي سرتېري پرې د عادي دروغو شک هم نشي کولی او دېته بشپړ جهالت او د جهل لوړه څوکه وايي.

او بیا سرتېري د ولس له منځه او د ولس په خدمت کې وي، ولسونه په خپل منځ کې ګڼ ازاد او خپلواک مدني فعالان، مخور، سیاسیون، کارپوهان او څېړونکي لري، په ټولو برخو کې پرمختللي هم دوی دي، د چارواکو له عادي دروغو ښه آګاه هم دي، د ټرمپ او له هغه مخکې مشرانو او د دوی د ادارو چارواکو بهرنۍ تګلاره او بدعواقب یې (په نړیواله کچه د هېواد او ولس باور ته زیان چې له هغه یې د پټون نسبي زیاته هڅه کېږي) هم اوس ورته مالوم دي، نو له دې ټولو سره سره د ګوتو په شمېر دروغجن چارواکي او د جګړې سرخېل څرنګه دوی او څرنګه ترې ولس تېرباسي او تر ټولو اوږدې جګړې په اړه د هغې همځولي دروغ پر مني؟

د پام وړ دا چې لکه ومو ویل افغانستان د جګړو او د هغو د ګټلو اوږد او زرین تاریخ لري، تاریخ یې د تېرو یرغلونو یو عیني شاهد دی چې په هر وخت او حال کې د افغانستان په اړه د هرچا لپاره د هغه په سم او ناسم موقف کې د پام وړ کار ورکوي، نو که له امریکایي ولسونو او دنیاوالو حقائق پټ کړل شي او دوی د افغانستان د رواني جګړې په اړه نه پوهېږي چې پکې څه دي او په کومه خوا روانه ده، نو د هغه تاریخ ولې نه ګوري چې لږ تر لږه شک خو یې په یقین بدل شي او یا که هرڅه سم ورته مالومېږي نو شک خو به واخلي چې بیا یې وڅېړي او پرې حقیقت ته ورسېږي؟!

د افغانستان د جګړې په نړاو واشنګټن پوسټ خپاره کړو پټو اسنادو پرته هم دا یو جوت حقیقت دی چې دلته بهرنیانو ته د جګړې له تلفاتو د هغې په اړه تر ټولو حقائقو یې له یوې مخې چارواکو او د جګړې سرخېلو پټ ساتلي، که څه هم طالبانو یه بیا بیا ترې پرده پورته کړې او تر دې چې پر امریکایي ولسونو یې غږ کړی چې را ویښ شي، خو دوی ښایي طالبان پر هغه سرچپه رنګ او څوند پېژني چې همدې غولونکو چارواکو او سرخېلو ور پېژندلي.

او بیا د دوی د تېرایستني دغه لرغون پوهه چارواکي د طالبانو په تبلیغاتي پرمختګ هم برالا اعترافونه کوي ترڅو ولسونه یې د طالبانو موندني او انکشافات د هغو تبلیغات وګڼي او وېې نه مني، نو ښایي ولسونه د خپلو چارواکو د دې ډول دسګاوو ښکار شوي و تر هغه یې د طالبانو له خوا وخت پر وخت ورکول کېدونکو مالوماتو باور نه وي کړی چې واشنګټن پوسټ یې اسناد نشر کړل.

په خپل مسئولیت کې د باتي راتلو پر وخت د ټرمپ (هرڅه سم/ سم روان دي) او د بایللي باور د بیا لاسته راوړني پر تکل یې(له افغانستانه خپل سرتېري کورته راستنوم) د ولس غولوني په برخه کې تر ټولو لنډ او اغېزمن ټکي دي، موده مخکې یې خپلو سرتېرو ته د بوې وینا پر مهال ویلي وه که په جګړه کې د افغانانو زور نه و/وي درمالوم نو له شوروي... خو هغه باید داسي ویلي وای چې...نو د تر ټولو ستر اشر پر وړاندې دغه۱۹ کلنه جګړه یې وپوښتئ.

خو شوروي چې د هغه په خبره او اعتراف څو دېرش کاله وړاندې لا روسیه شوی او پر وړاندې یې د افغانانو بریا مثل شوې، نور یې کېسه د ماضي کېسه او د تاریخ په پاڼو کې دې وي، په افغانستان کې د یر غلونو ماتې او د افغانانو بریا به نوره د صلیبي یرغل پر کېسه بېلګه کېږي او له دې وروسته به بل یرغل هم نه وي .

ان شاءالله العزیز.

■ لیکوال: محمود محمد الخزندار
■ ژباړه: احمد حمزه

د اللّه تعالی په نصرت باور لرل

په الله تعالی د یقین حقیقت په کمزورو مرحلو کې خُرګندیږي. همه شخص د یقین حاوند نه دی چې کله د اسلام خواک او د مسلمانانو عزت حوندي وویني او د بریاوو زیري واوري، نو دمخ ګونځې یې وغوړیږي، سینه یې خلاصه او خوله یې له خوشالۍ وخلیږي، بلکې په الله تعالی یقین او اعتماد هله راځي کله چې په الله تعالی بروسه کوونکي باندې تیاره شي، تنګلاسی راشي، غمونه پرې وبر او دښمنان ترې چاپیره شي، دغه وخت یې امید الله تعالی ته شي، دغه مهال دده دا یقین شي چې عاقبت دمؤمنانو دی او مستقبل د همدې دین دی.

ځنګه چې مجاهد په ځمکه کې د لله تعالی دین قائمولو لپاره هڅه کوي، نو دده تګلاره او کامیابي هم په همغه صبر او یقین پورې تړلې ده، ابن القیم رحمه الله فرمایي چې : ما ابن تیمیه رحمه الله څخه واورېدل، هغه ویل: دین کې د صبر او یقین له وجې د امامت (پیشوا او لارښوونې مقام) حاصلیدلی شي، بیا یې د آیت تلاوت وکړ: { وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ} [السجدة: ٢٤]

ژ: او کله چې هغوی صبر وکړ او زموږ په آیتونو یې باور وکړ، نو په هغو کې مو داسې لارښوودونکي پیدا کړل، چې زموږ په امر یې لاړ ښوونه کوله.

او ترټولو مهم یې چې انسان ته ورکول کیږي یقین دی، ځنګه چې حدیث کې دي: "سَلُوا اللهَ الْيَقِينَ وَالمُعَافَاةَ فَإِنَّهُ لَمْ يُؤْتَ أَحَدٌ بَعْدَ الْيَقِينِ خَيْراً مِنَ المُعَافَاةِ". تاسې د الله تعالی نه یقین او عافیت وغواړئ ځکه

تریقین وروسته چاته تر عافیت عوره څه نه دی ورکړل شوی.

دا امت نه هلاکیدونکی دی مګر که ددې امت څوانان په ټوله هڅه او کوښښ سره ددې مرستې ته راوښه دانګي، بیا به له خواری او عمل پرته د هیلو او امید سخني شیبې تېروي، له همدې وجې پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: «صَلَاحُ أَوَّلِ هَذِهِ الْأُمَّةِ بِالزُّهْدِ وَالْيَقِينِ، وَيَهْلِكُ آخِرُهَا بِالْبُخْلِ وَالْأَمَلِ». ژ: ددې امت له لومړي سره سامنه په زهد او یقین سره ده او د بخل او امیدونو له وجې یې آخر په هلاکت دی.

ځکه چې بواځې الله تعالی عالم الغیب دی، موږ نه پوهیږو چې نصرت به کله راځي؟ او پدې نه پوهیږو چې خیر چېرته دی؟ مګر هغه څه چې پوهیږو وربنديې، دادي چې د امت غوره امت دی و الله تعالی به یې کومک کوي. اګر که څه مهال وروسته وي او دې خبرې ته نبي علیه السلام خپله وینا کې اشاره کړې : "مثل أمتي مثل المطر، لاأدري أولّه خير أم آخره" زموږ د امت مثال د باران دی د، نه معلومیږي چې اول یې غوره دی او که آخر". او پدې نه پوهیږو چې د کوم چا په لاس به دا د غم پېښې لرې کړي او د امت شان و شوکت به لوړ کړي خو هغه څه چې په هغې پوهیږو ، دالله تعالی په دنیا کې د هغه سنت (نګلاره) ده، ځکه چې رسول الله و یې. لاَ يَزَالُ الله يَغْرِسُ في هذَا الدِّينِ غَرْساً يَسْتَعْمِلُهُمْ فِيهِ بِطَاعَتِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ" الله تعالی همیشه په دې دین کې قیامت ورځې پورې داسې څوک پیدا کوي چې دهغه په امر او اطاعت ددې دین ساتنه کوي.

او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په ډېرو احادیثو کې بشارتونه راغلي چې ورسره زړه تازه کیږي او یقین زیاتوي چې له هغې جملې د الله تعالی دا وعده ده چې ددې امت پاچاهي به شرق او غرب ته رسي او هلته به داسې برخې وي چې اسلام ورته نه وي رسیدلی، خو مسلمانانو ته پکار دي چې هغه فتحه کړي.

«إن الله زوى لي الأرض فرأيت مشارقها ومغاربها، وإن أمتي سيبلغ ملكها ما زُوِي لي منها».

ژ: په یقیني توګه الله تعالی ماته ځمکه ښکاره کړه، نو ما د هغې ختیځ او لوېدیځ ولېدل او زما د امت واک به ډېر زر هغې (برخې) ته چې ماته ښکاره کړی شوه، ورسیږي.

کله چې موږ وپېژندل چې په اسلام کې لوړوالی، عزت او کامیابي ده نو موږ به په هیڅ وخت کې هم د مسلمانانو په ضعف مایوسه نه شو، ځکه پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: ولايزال الإسلام يزيد، وينقص الشرك وأهله حتى تسير المرأتان لاتخشيان إلا جورا والذي نفسي بيده لاتذهب الأيام والليالي حتى يبلغ هذا الدين مبلغ هذا النحم. او همیشه به اسلام پراخیږي او شرک او اهل شرک به کمیږي تردې چې دوه ښځې به روانې وي، د طلم پرته به له څه نه ویریږي. زما دې به هغه رب قسم وي چې زما ساه یې په واک کې ده، ورځې او شپې به لانه وي تېرې شوي تردې دغه دین به د دغه ستوري اندازې ته ورسیږي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سې زیري بیان کړي چې هره مایوسي ورسره لرې کیږي او دهرې نا امیدي مخه نیسي، هر دردمن ته ټکور او هر زړه ته ډاډینه وي او دا زیری یې ددې امت لپاره په زلمیو سره ورکړی، داسې وخت کې چې د امید څرک به نه لګیږي، هغه صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«بَشِّرْ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِالسَّنَاءِ، وَالرِّفْعَةِ، وَالنَّصْرِ، وَالتَّمْكِينِ فِي الْأَرْضِ» مسند أحمد ط الرسالة (٣٥/ ١٤٦)

دې امت ته په ځمکه کې د لوړتیا، پرمختګ، نصرت او کامیابي زیری ورکړه!

دا جهاد به د قیامت تر ورځې جاري وي او را ونلي ډله نه چې د حق لپاره جنګېدونکي وي. ځوک ورته ضرر ورنه شي رسولای ،و دا به ترهغې جاري وي چې د الله تعالی فیصله نه وي شوي او پدې اړه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: «لَنْ يَبْرَحَ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا، يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ» صحيح مسلم (٣/ ١٥٢٤) دا دین به همیشه قائم وي، د مسلمانانو یوه مضبوطه ډله به دغه دین باندې جګړه کوي، تر څو قیامت راشي.

د الله تعالی په نزد مقیاس هغه ډول نه دی چې انسان یې تصور کوي، په حقیقت کې الله تعالی کمزوری ځواکمن ګرځوي او پدې خبره کې موږ ته دا وضاحت دی: «إِنَّمَا يَنْصُرُ اللَّهُ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِضَعِيفِهَا، بِدَعْوَتِهِمْ وَصَلَاتِهِمْ وَإِخْلَاصِهِمْ» سنن النسائي (٦/ ٤٥)

په یقین سره الله تعالی د کمزورو خلکو په دعوت، لمانځه، او اخلاص سره ددې امت نصرت کوي.

هغه مسلمان چې په ځنځیرونو تړل شوی، نړۍ جامه یې په تن ده ، په هرځای کې محاصره، بې وسلې، بې کسه او بې اسرې دی، دعه بنده چې له هر رار نکلیفونو چې دی ورسره مخ کیږي الله تعالی یې له برکته ددې امت کومک او مرسته کوي، ځنګه چې پیغمبر علیه الصلاة والسلام ورته اشاره کړې:

